# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده — د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**چهارشنبه، (۱- ۲مه) ګڼه، ، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۹۳- ۳۹۴مه) ګڼه، د ۱۴۰۱ل.کال د حمل (وري) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال، د رمضان د مياشتې ۱۸مه او د ۲۰۲۲ز.کال، د اپريل ۲۰مه.**


زه د يار مينې په يار باندې شيدا کړم

که څوک ما ګڼي زه نه يم واړه دی دی

**رحمان بابا**


**شيخ ال‌إسلام شمس الحق أفغاني**

**ژباړن: محمد عمر جلال**


## وحي او د قرآن کريم د نزول حقيقت

د وحي لغوي معنا »الإشارة السريعة« ده، يعنې ژر په اشاره پوهېدل يا «الإعلام في خفاءٍ» يعنې چاته پټ څه ويل. (فتح الباري، د لومړي جلد ابتدايي مخونه). شرعي معنا يې «الإعلام بالشرع» ی‌عنې د شرعي احکامو بيان ته وحي وايي.

د لغوي وحي درې ډولونه دي: ۱- فطري ۲- ايجادي ۳- عرفاني

**۱. فطري وحي:** لکه مچۍ چې په الهي الهام سره ځاله کوي او بيا شات پکې را غونډوي، همدا راز د نورو حيواناتو ځينې کارنامې هم همدا شان دي.

قرآن کريم کې راځي: ﴿وَ أَوْحى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبالِ بُيُوتاً.﴾

ژباړه: ستا رب د شاتو مچيو ته د فطري وحي په ذريعه وفرمايل چې تاسو خپلې ځالې په غرونو کې جوړې کړئ!

**۲. ايجادي وحي:** لکه د اروپا ساينس پوهان چې د يو شي ايجادي اړخ ته متوجه شي او د جوړولو لپاره يې هڅې پيل کړي، نو الله تعالی يې د همدې شي صورت او نقشه پر ذهنونو را نازله کړي او شی رامنځته شي. مثلاً هغه شخص چې په لومړي ځل يې الوتکه جوړوله، تر دې مخکې يې هوايي الوتکه چېرته نه وه ليدلې، نو لومړی يې يو الوتونکی څيز ځانته لاربښودې موخه وټاکله، کار يې پيل کړ او خپل ذهن يې په همدې لاربښود پسې کړ، څو څو ځله يې تجربه وکړه، خوارۍ يې وکښه، بالآخره يې په ذهن کې الله تعالی د الوتکې بشپړه نقشه ور واچوله، يعنې د موجِد کار ذهن متوجه کول وو او د الله تعالی کار دا وو چې د مطلوب شي نقشه يې په ذهن کې ور واچوي.

دا وحي او الهام هر چاته کېدای شي، که مؤمن هم نه وي.

﴿كُلًّا نُمِدُّ هٰؤُلاءِ وَ هٰؤُلاءِ مِنْ عَطاءِ رَبِّكَ وَ ما كانَ عَطاءُ رَبِّكَ مَحْظُوراً.﴾

ژباړه: مؤمن او غير مؤمن دواړه چې کله کوشش کوي نو موږ له دوی سره مرسته کوو، ستا د خدای بخشش او فيض له هېچا څخه بند نه دی.

**۳. عرفاني وحي:** دغه وحي تر اولياوو پورې خاص ده. کله چې يو مسلمان د شريعت اتباع شروع او رياضت غوره کړي، نو له دې سره يې د نفس تزکيه راځي او د الهام له لارې پرې خاص علوم رانازلېږي، چې قرآن کريم ورته داسې اشاره کړې ده:

﴿وَالَّذينَ جاهَدوا فينا لَنَهدِيَنَّهُم سُبُلَنا﴾

ژباړه: کوم خلک چې د دين او اطاعت په لار کې مجاهده کوي، نو موږ ورته د هدايت خاصې لارې پرانيزو.

دغه هدايت له الهامي معرفت څخه حاصلېږي، چې له عام ايماني هدايت څخه جلا شی دی، ځکه ايماني هدايت له مجاهده کوونکي سره له اوله سره شته وي.

دغه درې ډولونه په لغوي لحاظ وحي ده، چې له انبياوو پرته په نورو موجوداتو کې شتون مومي، که انسان وي او که حيوان او که بل ژوی وي.

**شرعي وحي:** دا وحي يوازې تر انبياوو پورې خاص ده.

هر نبي ولي هم دی، چې په همدې اساس شرعي وحي ته عرفاني وحي هم ويل کېدای شي، خو توپير دا دی چې د نبي عرفاني وحي د شرعي وحي يو ډول دی، يعنې د نبي عرفاني وحي قانوني حيثيت لري او د ولي هغه بيا قانوني حيثيت نه لري. د علم کلام مشهوره مسئله ده: اَلْإِلْـهَامُ لَيْسَ بِحُجَّةٍ عِنْدَ الشَّرْعِ (د ولي الهام شرعي قانون نه شي کېدای).

د شرعي وحي حقيقت: د الله تعالی له لوري، د ملائکو په واسطه، د الفاظو په شکل د نبي کريم صلی الله عليه و سلم سپېڅلی ذات ته الهي لارښوونې انتقالېدل او يا له واسطې پرته په خوب يا بيدارۍ کې لارښوونه، شرعي وحي بلل کېږي، چې همدا د نبوت روح دی.

په دې تعريف سره د وحي ټول هغه شکلونه په شرعي وحي کې شاملېږي چې د (اتقان في علوم القرآن) په لومړي ټوک ۴۴مخ کې يې يادونه شوې ده.

د وحي او نبوت دغه حقيقت (چې له آدم عليه السلام څخه را پيل دی او په خاتم الانبياء باندې پای ته رسېدلی) معقول او ممکن دی، چې د نړۍ هېڅ فلسفه يې نه شي ردولای.

انسان چې د خدای په مقابل کې هېڅ حيثيت نه لري، هغه کولای شي چې د يوې بې روحه آلې (ټيپ ريکارډر) په واسطه الفاظ نقل کړي، چې موږ او تاسو يې په ورځني ژوند کې وينو، نو آيا د همدې انسان خالق نه شي کولی چې له بې روحه آلې پرته يو مقدس انسان ته د وحي الفاظ نقل کړي؟!

د نبوت وحي: نوي علمي څېړنو هم دغه حقيقت ثابت کړی، چې دلته يې د منکرينو د قلبي تسکين لپاره وړاندې کوو:

د مناهل العرفان ليکوال (په لومړی ټوک، ۵۹ او ٦۱ مخ کې) د

۳مخ


څېړنپوه مولاجان تڼيوال


## د ژبې تاريخ او بدلون

د ژبې تاريخ د ډياکرونيکي څېړنو او معلوماتو پايلې خلاصه کوي. د ژبې تاريخ په تېرو پړاوونو کې د هغې (ژبې) حالت، سيستمونه او هغه بدلونونه چې د تاريخي پرمختګ په اوږدو کې يې شاته پرېښودلي دي تشريح کوي او علتونه يې راسپړي. د ژبې تاريخي څېړنې په لومړي سر کې او تر هر څه دمخه د تاريخي- مقايسوي څېړنې په توګه پرمختګ کړی دی. د مهمو موخو له منځه يې يوه موخه د اندو اروپايي ژبو ترمنځ جنټيکي کشف يا د پرمختګ د تاريخي اړيکو راسپړنه وه. د دې لپاره د يوې فرضيې په توګه د يواځينيو يا بېلابېلو زړو ژبو او تر ټولو وړاندې د لرغونو ژبنيو نخښو نښانو او اسنادو رښتينې Sichtung کتنه خپل ځان ثابتوي دا ځکه چې يواځې په هغه کې د مخکيني وخت ژبې يا ژبو خپل ځان په اصلي او پخوانۍ بڼه ساتلی دی. په دې لړ کې زماني، جغرافيوي او ټولنيز قضاوت او د دې ژبنيو اسنادو نظم او ترتيب چې د ادبياتو او کلتور له تاريخ سره ډېره نيږدې اړيکه لري اړين دي؛ لکه څنګه چې د ژبنۍ څېړنې په معلوماتو باندې کار وشو، دې دواړو هم د تاريخي ژبنۍ څېړنې څخه ګټه واخيسته. په همدې تړاو د انتيکو متونو په باره کې هڅو په اساسي ډول پرمختګ وکړ. د متن نقد د متن د ډېرو وريانټونو حالات په تېره بيا د کتيبو حالات ګوري او ټاکي يې. د سپارل شويو متونو د دقيق نظم او ترتيب په اړه ډول ډول هڅې او د رښتيني يا زاړه متن تشخيص د فلالوژۍ په دندو کې راځي.

د ډېرو (اکثرو) اروپايي او د پېژندل شويو هندي ژبو په منځ کې د پام وړ مطابقت د تشريح په موخه د يوې اندو اروپايي منشايي ژبې Hypothese فرضيه ترتيب او جوړه شوه، له دې کبله تاريخي- مقايسوي ژبپوهنې ته له پلان سره سمه دا دنده وسپارل شوه چې اندو اروپايي مور ژبه د تېر وخت په غږونو، فورمونو او داسې نورو (برخو) کې شرحه کړي، له سره يې جوړه کړي او هغه قوانين کشف کړي چې د هغوی په وسيله د اندو اروپايي مور ژبې څخه نورو ځانګړو اروپايي ژبو پرمختګ کړی دی. د دې Rekonstruktion بيارغاونې زړی يا هسته د ژبو د جوړښت د اساسي مطابقت په Nachweis زبات په تېره بيا د هغې په پخوانيو غږونو او فورم کې پروت دی. کله چې يو څوک د يوې اندو اروپايي منشايي ژبې قبلونه ردوي، د ژبو ترمنځ په داسې يوه جنټيکي اړيکه باندې اتکا کوي چې لږ تر لږه يې تر يوه بريده پورې مخکينۍ مرحله تېره کړې وي. په دې وخت کې د يوې يا بلې ژبې فورمونه د نخښې په توګه هماغه مخکينۍ مرحله ښودلای شي. د اندو اروپايي ژبو د اوازونو د پانګې(ذخيرې) پرتله د دې قبلونې لورې ته لارښوونه کوي چې لومړنۍ يا منشايي ژبې بايد چې د Klusil غږونو يوه معينه برخه په واک کې لرلې وي. کله چې يو څوک مناسب او اصولي تغييرات مني بايد چې د اندو اروپايي يواځينو ژبو Klusil اوازونو ته ور وګرځي.

د جرمنيک ژبو د پخوانيو پوړيو تغييرات چې د جرمنيک غږونو د بې ځايه کېدو په توګه خلاصه شوي دي Tenues بې غږه او د Aspiration درلودونکو ويپونو د بې ځايه کېدو سره يوځای يې Reibelaute مښلو اوازونو ته جرمنيک زوړ فورم ورکړی دی. له دې څخه دا پوښتنه راپيدا کېږي چې ايا يوه مور جرمنيک ژبه موجوده وه؟ د Romanisch روماني ژبو لپاره ښه، مداومه او په اسنادو ثابته شريکه مخکينۍ پوړۍ په لاتين (Volgaerlatein) ژبه کې واقعاً د ثبوت وړ ده. د اوازونو او فورمونو ترڅنګ د ويپونو جوړښت او معناوې په تاريخي- مقايسوي لحاظ پلټل کېږي. تاريخي- مقايسوي ميتود، د اندو اروپايي (ژبنۍ کورنۍ) څخه علاوه په نورو ځايونو کې هم د ژبنيو کورنيو اثبات وکړای شو؛ لکه Semitisch شامي او Hamitisch حامي ژبې په شمالي افريکا، Bantu بانټو ژبې په مرکزي او جنوبي افريکا، Tibeto- Chinesisch تيبېټو- چينايي په

۲مخ

## د سيال کاکړ (اوه انځورونه)


څېړندوی لطف الله صابر


هر انسان چې په غوره نومونو، ښو او نېکو ستاينو يادېږي، هرومرو به يې د ټولنيز ژوند په اوږدو کې غوره او نېک کارونه ترسره کړي وي او له همدې امله به يې نورو وګړو ته خير ښېګڼه رسېدلې وي.

پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ هم زموږ د ټولنې د يوه روښانفکره او مهربان انسان په توګه ژوند کړی او د ژوند په اوږدو کې يې د لر او بر پښتانه کهول د ژوندود ګڼ شمېر خراغونه رڼه ساتلي او له همدې لارې يې خپلې ژبې او پښتون ټبر ته د خدمت کولو لاس ورکړی دی.

سيال کاکړ نه يوازې دا چې د پښتو ژبې او ادب د استاد، څېړونکي او ليکوال په توګه يې پېژنو؛ بلکې د خپل کور، کلي او سيمې د يوه روڼ اندي، هڅاند او ژبور مشر په توګه يې هم يادولی او ستايلی شو؛ دا ځکه چې د ټولنيزې پوهې په درلودلو سره يې هرو مرو په خپله سيمه، وګړو او ټولنه اغېز درلود.

همدا ولي محمد خان د عبدالرحمن خان زوی دی چې د پښتنو په کاکړو قبيله پورې اړه لري، تخلص يې سيال او قلمي نوم سيال کاکړ دی، چې په ۱۹۳۵ م کال د کوټې (پښين) د سرانانو د کلي په يوه ديندراه کورنۍ کې زېږېدلی دی.

نوموړی په پارسي، پښتو، اردو او بي اېډ کې تر ماسترۍ کچې زده کړې کړې دي چې لومړنۍ زده کړې يې په سرانان، پښين او نورې زده کړې يې پېښور، لايلپور (فيصل اباد او لاهور کې ترلاسه کړې دي. ښاغلی سيال کاکړ په مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په پارسي، اردو، براهوي، انګليسي او پنجابي باندې برلاسی و او ليک لوست يې پرې کاوه، چې پخې ليکوالۍ ته يې په ۱۹۵۹ م کال مخه کړه او تر اوسه يې ګڼ شمېر تحقيقي او تخليقي آثار چاپ او ګڼ شمېر خورې ورې ليکنې يې په مجلو او جريدو کې خپرې شوې دي.

دا چې سيال کاکړ د ژوند ډېره برخه د پښتو ژبې او ادب پاللو او بډاينې ته ځانګړې کړې وه، د خپلو ارزښتمنو ليکنو او څېړنو له مخې يې د پښتو ژبې، ادب او پښتو فولکلوري ادب په بېلابېلو برخو کې (۴۴) ګټور تحقيقي، تخليقي او تاليفي آثار چاپ او خپاره شوي دي، چې له هغې ډلې څخه يې همدا (اوه انځورونه) هم د پام او ارزښت وړ دي.

مخکې له دې چې اوه انځورونه در وپېژنم او په ارزښت يې خبرې وکړم؛ غوره بولم چې د انځور په اړه هم لنډه يادونه وشي:

انځور په عامه توګه د منظرې هغه نچوړ ته ويلی شو، چې په هغه کې د رنګارنګيو ښکلا، حسن او جمال وار له واره د ليدونکي زړه، فکر او هوش ځانته ور جلبوي او په خپل ظاهر او باطن کې يې مشغولوي.

د سيال کاکړ همدا انځورونه هم هر يو د خپلو ارزښتمنو مناظرو درلودونکي دي، چې د پښتو ژبې او ادب مئينان يې د شنې ورشو له غوټيو، تنکيو ګلانو، نريو او مثمرو ځانګو له رنګارنګيو، حسن او جمال څخه متاثر کېږي. په دې انځورونو کې د پښتو ادب په ځانګړې توګه د پښتو ولسي ادب د ځلاندو مرغلرو ګڼ شمېر پانګه هم خوندي او څېړل شوې ده؛ لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه، د سيال کاکړ هر (انځور) خپل ځای او ارزښت لري نو ددې برخې هلې ځلې يې ډېرې ارزښتمنې ګڼل کېږي او د نوموړي همدا لاره راته د مرحوم محمد ګل نوري د نايابو فولکلوري هلو ځلو سپېڅلې لاره ښکاري چې مرحوم سيال کاکړ تر دې ځای راورسوله، د استاد حبيب الله رفيع عمر دې اوږد شي چې د پښتني فولکلور کاروان يې لا روان ساتلی دی.

خبره نه اوږدوم! زموږ ژبه، أدب، فولکلور او د همدې برخې پالونکي د پښتني ټولنې د تېر او اوسمهال مشالونه دي، موږ او زموږ نوی نسل به تل پرې وياړي او د هغوی د راپاتې انځورونو ننداره به کوي.

د اروابناد سيال کاکړ (اوه انځورونه) چې ددې ليکنې اصلي موضوع ده، نومونه يې په لاندې ډول دي.

۱ .ادبي انځور، ۲. نثري انځور، ۳. غوره انځور،۴. زرين انځور، ۵. فولکلوري انځور، ٦. لونګين انځور او ۷. ملي انځور دی.

- **ادبي انځور:** د پروفيسر سيال کاکړ د همدې څېړنيز اثر لومړی ټوک چې زما په کتابتون کې موجود دی په ۱۹۸۷ ميلادي کال، پښتو پبليکېشنز له خوا د يونائيټېډ پرنټرز په مطبعه کې د ۲٦۴ مخونو په لړلو سره چاپ او خپور شوی دی، چې خطاطي يې راز محمد راز کړې ده.[1]

دا چې دا لومړی ټوک دی، دويم ټوک که به هم لري خو ما ترلاسه نه شو کړای چې دلته يې په اړه خبرې وکړم؛ همدا لومړی ټوک دوه برخې لري چې لومړی برخه يې (ملي څېرې) ترسرليک لاندې توريالی شاعر (امير کروړ سوري)، ملي مبارز (بايزيد روښان)، خوشحال او پښتو، رحمن بابا د تصوف باچا، نوميالی ليکوال (محمد هوتک) ، جان محمد کاکړ، د سوات باباجي، پښتانه او اقبال راپېژني او دويمه برخه يې چې د کره کتنې ترسرليک لاندې ده؛ بازنامه، د پټې خزانې خطي نسخه، پټه خزانه د انصاف په تله کې، له استاد نوري سره تاريخي بې انصافي، قندهاري شاعران نومې رسالې ته کره کتنه، پړ هم وراشه لري، جامع القواعد يا که د خيال بخاري د کتاب لنډيز؟، يک نه شد دو شد، سهيلي پښتانه نثر ليکوونکي، د پښتانه ليکوال په هينداره کې مسايل او موضوعات تر بحث لاندې نيسي؛ خو مخکې له دې دواړو برخو ددې کتاب په ارزښت او منځپانګه استاد حبيب الله رفيع سريزه ليکلې ده.

- **نثري انځور:** دا هم د سيال کاکړ يو بل ګټور تحقيقي اثر دی چې په ۲۰۰۵ م کال د پښتو ادبي بورډ، کوټې خپرندويې ټولنې له خوا په يونايټېډ پرنټرز مطبعه کې د ۲۹٦ مخونو په لړ کې چاپ او خپور شوی دی.[2]

په دې اثر کې ټول ۲۵ سرليکونه دي چې دلته يې د ځينو يادونه کوم: ملا عبدالسلام اشيزی د خپلو طلايي افکارو په رڼا کې، رشاد مړ نه دی ژوندی دی، معياري ليکدود او د پښتنو اديبانو مسوليتونه، مقدمه که په تذکره کې تذکره، همېش خليل يو دار التصنيف دی، پښتون قومي تحريک ته يوه اديبانه کتنه، په پښتني فولکلور کې د سهيلي پښتونخوا سمسوره برخه، په پښتو کې لهجوي توپيرونه او په ځينو تورو کې صوتي تغييرات، پښتو مقلوبات (اوښتنې)، د معذور يار فن او شخصيت، پرېشان خټک او د هغه آثار او داسې نور... راغلي دي چې په ليکنو او څېړنو کې ترې په پوره توګه ګټه اخيستل کېدای شي.

- **غوره انځور:** د پروفيسر سيال کاکړ دا اثر په ۲۰۰۷ م کال د پښتو فولکلور اکيډمي له خوا په ۱۷٦ مخونو کې د يوناټېډ پرنټرز مطبعه کې چاپ او خپور شوی

۳مخ


څېړنوال دکتور سيدنظيم سيدي


## پښتو نثر له نوي ديده

نثر په اصل کې عربي کلمه ده چې معنا يې شيندل (تيتول) او خواره کول دي او په اصطلاح کې هغې وينا يا ليکنې ته نثر وايي، چې وزن او قافيه ونه لري؛ (۱) خو اجمل ښکلی د نويو تجربو په رڼا کې په ياد تعريف کې يو څه ستونزې وينې او وايي: «د روان او عام فهمه ليک په لړ کې چې د ليک کوم توکی په استعمال را وستی شي، هغه نثر دی». (۲)

نوموړی ځکه پر پورته پېژند نيوکه لري چې هغه ورته زوړ او له نيمګړتياوو ډک ښکاري، دی وايي که چېرې په کومه نثري ليکنه کې قافيه نه وي او وزن وي ايا بيا هم نثر دی؟، په داسې حال کې چې وزن لرونکی کلام نن سبا د ازاد نظم يا شعر په نامه يادېږي، همدا رنګه نوموړی زياتوي، ځينې نثرونه داسې دي چې په جملو کې يې د قافيې التزام وي او د نوي زماني د ازاد نظم په څېر د وزن خيال هم ساتلای شي، خو که پورته تعريف ورته د کاني کرښه وګرځو، نو بيا يې بايد د نثر په چوکاټ کې مطالعه نه کړو. نوموړی د خپلې خبرې د وضاحت لپاره ډېر ښه دليل لري او وايي: په نظم او نثر کې څرګند توپير دا دی چې په نظم کې يو قسم تال يا ريتم وي، يعنې کوم وخت چې د منظوم کلام د يوې جملې يا مسرې تجزيه يا تقطيع وکړای شي، نو د لفظونو د سيلابونو په ويلو کې چې کوم توازن، نظم او ضبط يا ترکيب او بندوبست وي هغه په نثر کې نه وي او دا خبره د دې لامل کېږي، چې وواېو نثر تر څه حده د نظم ضد وي؛ خو کلي حکم نه کوي او نه يې بشپړ ضد بولي، په داسې حال کې چې موږ نن سبا نظم د نثر مخالف او نثر د نظم مخالف بولو؛ خو که باريکيو ته يې ځېرنه وکړو، نو بيا د استاد ښکلي خبره مو زړه ته لوېږي. په دې معنا همدغه هنري والی او زړه راښکون يې دی چې نثر يې هنري کړی او له نورو نثرونو يې جلا کړی.

موږ پورته هم دا خبره ياده کړه ځينې نثرونه داسې وي، چې لوستونکی يا اورېدونکی نه شي قانع کولای، خو ليکوال يې د قناعت لپاره له احساس، درک او عاطفي کار

۳مخ

۲ زېرى
علمي- خبرېزه او ادبي پنځلس ورځنی جريده
چهارشنبه
(۱- ۲مه) ګڼه
پرله پسې (۳۹۳- ۳۹۴مه) ګڼه
۱۴۰۱ د وري میاشتې ۳۱
۱۴۴۳ د رمضان ۱۸
۲۰۲۲ د اپریل ۲۰

لیکوال: ګل رحمن رحماني

# تخیل او خلاقیت

د تیاتر په یوه صحنه کې یم او مربي راته کیسه کوي:
سترګې پټې کړه، سترګې ترم او په یوه تصور کې ډوبېږم، له اوبو، ځنګل او غره نیولې تر توپ، سړک، موټر او هلته کوڅه کې د چرګانو تر اذانونو هر څه حس کوم.
زما عمر تر ټولو کم و، د مربي ددې لارښوونې سره سره به مې زړه تنګ شو، یوه سترګه به مې په غلا لږ لوڅه کړه، تر څو نور ووینم چې څه کوي. همدا وخت به مې پام شو چې مربي به ګوته پر مخ را کېښوده او غږ به یې کړ.
دروغ، چل او فریب بند دی.
د تیاتر صحنې په منځ کې په یوه کړۍ کې د ننه وم، په تیاره او سکوت کې به مې داسې تورو ته غوږ نیولی و چې ډېر وخت به مې دې غږونو ته د ننه په ذهن کې ښه ورکوله او تورو به خپل نقش هلته لوباوه.
د اوړي داسې وختونه به هم په ذهن کې راغلل چې د کنګل او یخ نیولو اوبو له پاسه به مې قدم اېښوده او لاندې به په کې کبان روان وو.
کله کله به مې په شاپرکو او بلبلانو پسې منډې وهلې.
یوه ورځ به مې له یوه هلک سره په دې سبب جنجال و چې زما د فوټبال توپ یې څېرلی و، بله ورځ به مو بیا یو ځای په واده کې نڅا کوله.
لنډه دا چې ډېر داسې کارونه به مې په ذهن کې تر سره کول چې په واقعیت کې به مې هېڅکله هم نه وو تر سره کړي.
هر ډول تمرین به مې کاوه، منډه، ډیالوګ ویل، نارې وهل او حتی د مربي له خوا ښودل شوي ځای ته په پټو سترګو سفر کول؛ په دې ټولو کې سخت راحت وم.
خپل د لوبو توکي به مې سترګو ته راوستل، د هغوی جوړې، رنګونه او بیا یې د خپلو همزولو له ورته لوبتوکو سره پرتلنه، ما کولای شول چې دا هر څه له کومې هڅې او سختۍ پرته هغسې تصور کړم چې غوښتل شوي وو.
که به مربي وویل چې یو داسې مېز تصور کړئ چې دوه ستر وزرونه لري او د ورېځو له پاسه الوت کوي، یا یوه داسې غوماشې وکاږئ (رسم یې کړئ) چې همدا اوس مو د ملګري پر غوږ ناسته ده، نو هېڅ‌چا به د ناتوانۍ څرګندونه نه کوله، حتی ډېر ځله به د خپلو تصوراتو په سبب خندا اخیستي وو.
اوس راځو خپلې خبرې ته او هغه دا چې د تصویر جوړونې او تخیل لپاره هېڅوک هم موږ ته دا میتود نه شي را یادولی او کومه روزنه هم نه غواړي، دا یو داسې کار یا پروسه ده چې له ماشومتوب څخه ورسره اشنا یوو او کولای شو چې په هر ډول شرایطو کې یې ترسره کړو.
د تخیل قدرت یا ځواک اصلا دلته خپل ځان ښکاروي، تصور، تخیل، خوب، ارام او ټول اړوند څېزونه انسان ته د نفس کښلو په څېر واجب دي.
دا کوم داسې مهارت نه دی چې د پوهې، روزنې او د علم د کسب پر بنسټ دې تر لاسه شي. البته کله کله محدودیت لري، موږ کولای شو چې انسانان، ګلونه، دفتر، کتاب، جامې او ... په اسانۍ سره تصور کړو، ځکه چې دا ټول مو لیدلي دي، یاني ټول هغه څه چې له ماشومتوب نه تر نن پورې راباندې تېر شوي او زموږ پر تخیلي ځواک اغېز پرېېږدي.
خو د هغو شیانو تصور چې تر اوسه مو نه لیدلي او نه مو حس کړي دي، ډېر ګران او د ځینو لپاره بیخي نا ممکن دی.
تخیل څنګه د خلاقیت پالنه تر سره کوي؟
کله چې موږ خپل ذهن ته حرکت ورکوو او داسې لوري او اړخ ته یې وړو چې تر اوسه مو تجربه کړی نه دی، نو په حقیقت کې داسې تصویرونه جوړوو چې خپله د پنځونې له جنسه دي او خپله د خلاقیت ځواک پیاوړی کوي.
د یوې متفاوتې نړۍ حس کول ځانګړې نبوغ، استعداد او هوښ ته اړتیا لري، دا یو داسې تمرین دی چې هر وخت که وغواړو یا ونه غواړو، ورسره مخامخ کېږو.
هر وخت که داسې یو احساس وکړو چې خلاقیت مو تمام شوی او نور د حرکت لپاره کوم لوری نه لري، باید سترګې پټې کړو او په خپل خیال کې سیر او مزل وکړو. باید له هغې فضاء څخه تېر شو چې په کې یوو، داسې ځای ته ځان ورسوو چې زړه مو غواړي، د تاریخ پاڼې واړوو، په تېر او راتلونکي کې ورک شوو، خپل وزرونه پرانېزو، والوزو او دومره اوچت شو چې ورېځې هم راڅخه لاندې پاتې شي.
هر څومره چې د خپل تخیل پر ځواک زیات کار وکړو، خلاقیت هم پیدا کېږي او خپل توغ (بیرغ) اوچتوي. ټول هغه کسان چې شاهکار هنري اثار، اختراعات او نه هېرېدونکې لیکنې یې پرېښې دي، په حقیقت کې یې هغه خوبونو ته وزرونه ورکړي چې له مودو یې په سر کې وو.
رایټ او ورونو یې چې تل به یې د الوت په اړه فکرونه کول، ټېلیفون یې جوړ کړ، همداسې هغه کسان چې نقاشي یې سازه کړه، سپین کاغذونه یې له کلمو او جملو ډک کړل یا یې غږونه مترنم کړل، دوی بې خلاقیته نه وو.
د دې لپاره چې خپل تخیل ته ښه والی ور په برخه کړو یا په بل عبارت تر ټولو غوره تخیل ولرو، نو اړینه ده چې نوې تجربې حاصلې کړو او هغه شیان چې د تصور توان یې لرو، په ښه ډول وپېژنو. الیور ساکس وایي: هوښ، تخیل، استعداد او خلاقیت که د پوهې او مهارت بنسټ ونه لري، نو کوم ځای ته نه شي رسېدلای.
زموږ تکراري پوهه، اګاهي او تجربې ممکن زموږ د ذهني فضا ساحه تنګه کړي، دا چې له اوږدې مودې راهیسې مو ذهن له یو لړ الګوګانو ډک دی او ورسره ملګري یوو، نو امکان نه لري چې متفاوت څېزونه دې ووینو.
یو ځای مې لوستي وو:
موږ غالبا داسې عادت شوي یوو چې ټول شیان باید په ځانګړې روش او ټاکلي شکل ووینو او تصور یې کړو، همدې چارې د نوو شیانو تصور راته ګران کړی دی. د نوو شیانو د ایجاد یوه لاره دا ده چې تېر ته ستانه شو او وګورو چې د خپلو شته تصوراتو لپاره مو کوم داستانونه شاته پرېښي که نه؟
نو په دې اساس د تخیل د بهبود لپاره یوازې د نوې پوهې او تجربې تر لاسه کول بسنه نه کوي، ځینې وختونه باید په خپلو تېرو تجربو کې هم لټون وکړو او پر مټ یې د نوو پېښو پاڼې واړوو. اړتیا ده چې شاته ستانه شوو او ټول شیان له نوي لیده وګورو، باید یوه پراخه نړۍ جوړه کړو او بې وېرې حرکت په کې وکړو.
ددې لپاره غوره لار ممکن دا وي چې د خپلو ذهني الګوګانو شکل او فورم مات کړو، هر څه اپوټه کړو، داسې اس تصور کړو چې په ګامونو ځي، داسې فیل چې الوزي، داسې ونه چې هندوانې په کې شنې شوې یا داسې چټکی چې ګاډۍ کشوي. د هر څه په اړه چې فکر کوو نا ممکن دي.
برنارد شاه وایي: ته تل یو څه وینې او بیا یې وایې، ولې؟ خو زه داسې شیان په خوب او خیال کې راولم چې هېڅ وخت یې شتون نه درلود او وایم چې ولې نه ؟
له دې توضېحاتو وروسته د تیاتر د تمرین ډله په خورا غوره توګه درک کوم.
موږ باید د خلاقیت او تخیل په برخه کې داسې نقشونه پر غاړه واخلو چې په درون کې مو نشته، که داسې ونه کړو نو هېڅکله هم نه شو کولای چې د یوه روږدي انسان نقش ولوبوو یا له مور او پلار کېدو وړاندې د مورولۍ او پلارولۍ خوند حس کړو./ پای

# د ژبې تاریخ او ...

ختیځه اسیا او د هند په شاو خوا کې، Uralisch اورال ژبې په ختیځه اروپا او Vorderasien کې او همدا شان د Finnougrisch فینو اوګري ژبو کورنۍ.
تر یوه بریده پورې خو د (ژبې) د بیارغاونې ټاکنې ته هم د شک په سترګه کتل کېږي، خو دا یوه ډېره مهمه پوښتنه ده چې د ژبو ترمنځه تاریخي اړیکې څنګه او په څه ډول موجودې دي. ډېره جوته خبره دا ده چې د ولسونو ترمنځ په اړیکو باندې فکر وشي. دا اړیکې باید چې ډېرې ډول ډول او په پراخه پیمانه وي او ژبنیو اخیستو او اغېزو ته په بېلابېلو بڼو سره لارښوونه وکولای شي. په دې ارتباط کې کېدای شي دېته را ورسېږي چې یوه یا ډېرې ژبې له نورو څخه بېدیا(لرې) کېږي. د دې لپاره یوه بېلګه د هغه وخت د Gallien په یوه څنډه کې د لاتین پراختیا ده، خو په انګرېزي ژبه باندې د فرانسوي ژبې څخه د اخیستلو اغېزې دومره پراخې نه وې چې په منځنۍ انګرېزي کې یې ژبنۍ پرمختګ په ګوته کړی وای، د لرې کولو او اخیستلو په منځ کې همزمان هغه ژبنۍ پرمختګ ځان ثابتوي چې په یوه ټاکلې موده کې یې دوام لرونکی مطابقت او ورسره یو ځای ټولنیز او کلتوري بنسټونه درلودل. دا د یو ځای شوي بشپړ فورم په توګه په جرمنیک او روماني ژبو کې منل کېږي. دې ډول موازي او د تعادل پرمختګ ته باید چې په Lexik کې منتظر شو او وې ګورو.
د مقایسې لپاره او د مقایسې په وخت کې دا اړینه ده چې د مقایسه کېدونکو ژبو پرمختګ او د دوی تاریخ په دقیق ډول وڅېړل شي. دا دنده د ژبې د تاریخ د تشریح سره یوځای کېږي. دلته خبره د معمول سره سمه د یوې یواځینۍ یا ځانګړې ژبې په تاریخ او د هغې په جنتیکي مخکینیو پوړیو باندې راڅرخي.
د یوې ژبې پرمختګ تر هر څه د مخه د هغې د تغییراتو په معنا دی، ځکه نو د هغې د پرمختګ شرحه د هغې د څرنګوالي په ښودلو او نورو برخو؛ لکه د اوازونو په بدلونونو، ګرامر، Lexik او د هغې د سټایل به نورمونو او له دې سره په تړاو کې د موجودیت د فورمونو په تحولاتو او دندو کې واقع ده. په دې لحاظ خبره د ژبې په فورمونو او د دوی د دندو په زماني پرله پسې ډیاکرونیکي څېړنه او دهغو د څرنګوالي په ښودلو باندې راتاوېږي. د ډیاکرونیکي څېړنې میتودونو په ډېرې ژورې پاملرنې سره د غږونو او فورمونو د پوهې په څانګه کې پرمختګ کړی دی او دا هغه څه دي چې د تاریخي- مقایسوي ژبنۍ څېړنې د Anforderungen غوښتنو په وسیله تشریح کېدای شي. په دې ترڅ کې په پیل کې یوه داسې ساده مشاهده موجوده وه چې په یوه مشخص وخت کې د هغه وخت په شته نخښو نښانو کې ثبت شوی ویی به د هماغې ژبې د راتلونکې دورې په نخښو نښانو کې په بل شکل صحنې ته راوت. په دا منځ کې ډېرو غږونو خپل ځانونه په څرګند ډول بدل کړل، د ساري په ډول تقریباً اووه سوه کاله وړاندې د Eis یخ جرمني ویی (is) ویل کېده. (i) خپل ځان په (ai) بدل کړ. په دې ځای کې یو ثابت نظم عملي شوی دی. دلته سړی دا حق لري چې د یوه قانوني بدلون او د اوازونو د قوانینو په اړه خبرې وکړي.
اوس نو دا پوښتنه رامخې ته کېږي چې د اوازونو داسې قوانین د طبعیت د قوانینو غوندې له استثنا پرته اعتبار لري؟ دا پوښتنه یونګ ګرامرستانو په خپل وخت کې ومنله، خو د نورو له لوریه نفي شوه. په رښتیا هم چې یو حالت لکه په جرمني ژبه کې Vaeterlich پلارنی، د پلار له اړخه، د پلارغوندې مهربان چې د منځنۍ لوړې الماني د Vaeterlich څخه منځته راغلی دی، دې ته نغوته کوي، هغه شرایط چې په هغه کې تغییرات د عمل جامه اغوندي باید چې په مشاهده او تحلیل کې ورګډ او شامل شي. دلته د یوه ستاینومیز وروستاړي lich په دننه کې په وروستۍ څپه کې اوږد (i) خپل ځان په (ai) نه اړوي، بلکې په لنډ (i) یې بدلوي او د غږونو تر یوه بل نظم لاندې دا جوتوي چې په جرمني ژبه کې د وروستۍ څپې بې خجه یا بې فشاره واولونه بې قوته کېږي. د ژبې اوازونه په یو ډول شرایطو کې یو ډول بدلون کوي، نو ځکه د اړوندو شرایطو پلټنه د ډیاکرونیکي ژبپوهنې یوه برخه ده. مختلف غږیز ګاونډیتوب، په جلا ټینګار سره لوستل او د خبرو ګړندیتوب کولای شي د بدلون د پروسې د نورو پایلو خوا ته لارښوونه وکړي. ځای او وخت د خپلو اړوندو ټولنیزو حالتونو سره په دې شرایطو پورې تړلي دي، په دې وخت کې دې ته اړتیا نشته چې دا شرایط دې ټول Relevant مهم وي. همدا اوس هم هغه څېړنه چې هغه په ځانګړو او ډېرو خاصو شرایطو کې د څرګندو او مشاهدې وړ حالتونو لپاره ځواب ویونکې ده، یونګ ګرامرېستانو ته یې د داسې ژبپوهنیز Atomismos خوا ته لارښوونه کوله چې د خپل ځان سره یې داسې Tendenz میلان راوړ تر څو د مهموالي په وجه د بېلو شویو یا ځانګړو ژبنیو څرګندېدنو پرمختګ ولټوي. په دې ترڅ کې ډېرې وخت د ژبنیو واحدونو ترمنځ رابطې ته پاملرنه ونشوه او داسې پایلو ته یې لارښوونه کوله چې د واقعي ژبنیو تحولاتو نابشپړې څېرې (شکلونه) او اړیکې ترې څرګندېدې.
د ژبې د سیستم کرېکټر په اړه د معلوماتو څخه د لرېوالي په وجه میتودي (میتودیکه) غوښتنه رامخې ته شوه تر څو ژبنۍ څرګندېدنې د هغوی په طبعي رابطه کې په خپل حال پرېږدي.
په دې ډول باید د یوه Kasus form یا د یوه اواز بدلون و نه پلټل شي بلکې د فونیم د ټول سیستم پرمختګ تر پلټنې لاندې ونیول شي. په پای کې دا غوښتنه وشوه چې سېنکرونیکي نمونې چې په یوه مشخصه زماني مقطع کې په یوه پرمختلونکې ژبه کې کمېږي او یا له منځه ځي یوه له بلې سره مقایسه شي تر څو له دې لیارې څخه د ژبې د پرمختګ په لړ کې د تېرو جریانونو په باره کې پایلې ترلاسه کړي. بې له شکه د یوه تیورتیکي اساسي نظر په توګه دا غوښتنه پر ځای ده تر څو دې ډول اړیکو ته پاملرنه وشي.
په هر صورت په دې لړ کې د دې اجازه نشته چې تش د ژبې داخلي اړیکې وکتلې شي، بلکې په خاص ډول د ژبې او ټولنې اړیکې او په دې سربېره د ژبې تاریخ او د ژبې ویونکو تاریخ چې خبرې ورباندې کوي او یا یې وربانديې کړې وي وکتل شي او که نه نو د دې وېره شته چې د ژبې د تغییراتو علتونه یواځې په یوه خیالي ذهني یا مجرد ناتاریخي تعبیر شوي سیستم کې وګوري او دا هغه څه دي چې موږ د ټګۍ برهګۍ د اواخرو خواته بیایي.
تاریخي څېړنه د اصولو سره د مشابه میتودیکو لارو (اصولو) په واسطه د ژبې د نورو څانګو په برخه کې هم برې ته رسېږي، مګر د ګرامري فورمونو د جوړښت، غونډلې د جوړښت او د Lexik په مورد کې ځانګړې پوښتنې مخې ته راځي. دا ټول ځکه یو ځای او سره تړلي دي چې د ځانګړو حالتونو د پلټنې په برخه کې په Lexik او غونډله‌پوهه کې ډیاکرونیکي څېړنه هیڅکله هم جدا یا یواځې نه ده رامخې ته شوې. د اوازونو د پرمختګ په پرتله Lexik ویي‌پانګه او نحوه(غونډله‌پوهه) نېغ په نېغه د ټولنیز پرمختګ سره تړلي دي. موږ د معنا د بدلون یو ښه تاریخي Gang جریان پېژنو د ساري په ډول: د zweck هدف د ویي جریان. دې ویي خپله اصلي معنا Nagel نوک، مېخ په منځنیو پېړیو کې په Armbrustschieszen یو ډول وسلې سره بدله کړه ځکه چې په منځ کې د ویشتلو تخته د مېخ په ذریعه ټینګه (کلکه) شوې وه. په دې ډول د موخې ویي په خپل وخت کې د Ziel هدف او Absicht قصد یا نیت ابستراکته معنا خپله کړه. موږ لا تر اوسه پورې داسې عمومي فرضیې یا شرایط نه پېژنو چې تر هغوی لاندې داسې یوه کانکرېټه معنا لکه دلته چې تر سترګو کېږي په ابستراکته معنا واړوي. د داسې مهم قانونیت د کشفولو لپاره فیصله کوونکی ټکی خپله زېمانتیک او د زېمانتیکي پلټنو مېتودونه دي. په داسې حال کې چې د معنا بدلونونه نسبتاً په لنډو زماني مودو کې واقع کېدلای شي.
د ګرامري فورمونو وړاندې تګ د غږ او یا د غونډلې د جوړښت غوندې یواځې په اوږدو زماني مقطعو کې تحول (بدلون) کوي.

**د ژبپوهنې د اساسي پوښتنو د پېژندنې نومي کتاب څخه**

- Philologie یوناني- لاتین نومونه ده، د ژبو او ادبیاتو علم په دې نوم یاد شوی دی.
Philologe د علم ملګري یا هغه چاته وایي چې د فلالوژۍ سره علمي اړیکي ولري.
- Klusil لاتین ویی (لغت) دی. b, k, t, g اوازونه په دې نوم یادوي.
- Reibelatein مښلو اوازونو ته وایي؛ لکه س، ث، ف او نور دې ډول اوازونو ته Frikativ نومونه هم کاروي.
- Volgaerlatein د لارې، کوڅو او سړک ژبې ته وایي دا ژبه د عامیانه ژبې په نوم هم یادوي.
- Vorderasien زه په دې و نه توانېدم چې زموږ د جغرافیې د پوهانو او څېړونکو له خوا دې نوم ته مناسب ژباړل شوی نوم پیدا کړم، ځکه مې همدا نوم په خپله اصلي بڼه دلته راوړ. Vorder په جرمني ژبه کې وړاندینۍ یا مخکینۍ ته وایي لکه په دې مثال کې Vorder Teil des Hauses د کور مخکینۍ برخه.
- Lexik د یوې ژبې ویي‌پانګې ته وایي.
- Atomismos یا Atomistik فکر، نظر، تصور یا مفکوره. د زیاتو معلوماتو لپاره په جرمني ژبه کې د بهرنیو لغتونو د قاموس ۹۲یم مخ وګورئ./ پای

لطف الله صابر

# د سیال کاکړ (اوه انځورونه)

هر انسان چې په غوره نومونو، ښو او نېکو ستاینو یادېږي، هرومرو به یې د ټولنیز ژوند په اوږدو کې غوره او نېک کارونه ترسره کړي وي او له همدې امله به یې نورو وګړو ته خیر ښېګڼه رسېدلې وي.
پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ هم زموږ د ټولنې د یوه روښانفکره او مهربان انسان په توګه ژوند کړی او د ژوند په اوږدو کې یې د لر او بر پښتنو کهول د ژوندود ګڼ شمېر ځراغونه رڼه ساتلي او له همدې لارې یې خپلې ژبې او پښتون ټبر ته د خدمت کولو لاس ورکړی دی.
سیال کاکړ نه یوازې دا چې د پښتو ژبې او ادب د استاد، څېړونکي او لیکوال په توګه یې پېژنو؛ بلکې د خپل کور، کلي او سیمې د یوه روڼ اندي، هڅاند او ژبور مشر په توګه یې هم یادولی او ستایلی شو؛ دا ځکه چې د ټولنیزې پوهې په درلودلو سره یې هرو مرو په خپله سیمه، وګړو او ټولنه اغېز درلود.
همدا ولي محمد خان د عبدالرحمن خان زوی دی چې د پښتنو په کاکړو قبیله پورې اړه لري، تخلص یې سیال او قلمي نوم سیال کاکړ دی، چې په ۱۹۳۵ م کال د کوټې (پښین) د سرانانو د کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زېږېدلی دی.
نوموړي په پارسي، پښتو، اردو او بي اېډ کې تر ماسترۍ کچې زده کړې کړي دي چې لومړنۍ زده کړې یې په سرانان، پښین او نورې زده کړې یې پېښور، لایلپور (فیصل آباد او لاهور کې ترلاسه کړې دي. ښاغلی سیال کاکړ په مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په پارسي، اردو، براهوي، انګلیسي او پنجابي باندې برلاسی و او لیک لوست یې پرې کاوه، چې پخې لیکوالۍ ته یې په ۱۹۵۹ م کال مخه کړه او تر اوسه یې ګڼ شمېر تحقیقي او تخلیقي آثار چاپ او ګڼ شمېر خورې ورې لیکنې یې په مجلو او جریدو کې خپرې شوې دي.
دا چې سیال کاکړ د ژوند ډېره برخه د پښتو ژبې او ادب پاللو او بډاینې ته ځانګړې کړې وه، د خپلو ارزښتمنو لیکنو او څېړنو له مخې یې د پښتو ژبې، ادب او پښتو فولکلوري ادب په بېلابېلو برخو کې (۴۴) ګټور تحقیقي، تخلیقي او تالیفي آثار چاپ او خپاره شوي دي، چې له هغې ډلې څخه یې همدا (اوه انځورونه) هم د پام او ارزښت وړ دي.
مخکې له دې چې اوه انځورونه در وپېژنم او په ارزښت یې خبرې وکړم؛ غوره بولم چې د انځور په اړه هم لنډه یادونه وشي:
انځور په عامه توګه د منظرې هغه نچوړ ته ویلی شو، چې په هغه کې د رنګارنګیو ښکلا، حسن او جمال وار له واره د لیدونکي زړه، فکر او هوش ځانته ور جلبوي او په خپل ظاهر او باطن کې یې مشغولوي.
د سیال کاکړ همدا انځورونه هم هر یو د خپلو ارزښتمنو مناظرو درلودونکي دي، چې د پښتو ژبې او ادب مئینان یې د شنې ورشو له غوټیو، تنکیو ګلانو، نریو او مثمرو څانګو له رنګارنګیو، حسن او جمال څخه متاثر کېږي. په دې انځورونو کې د پښتو ادب په ځانګړې توګه د پښتو ولسي ادب د ځلاندو مرغلرو ګڼ شمېر پانګه هم خوندي او څېړل شوې ده؛ لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د سیال کاکړ هر (انځور) خپل ځای او ارزښت لري نو ددې برخې هلې ځلې یې ډېرې ارزښتمنې ګڼل کېږي او د نوموړي همدا لاره راته د مرحوم محمد ګل نوري د نایابو فولکلوري هلو ځلو سپېڅلې لاره ښکاري چې مرحوم سیال کاکړ تر دې ځای راورسوله، د استاد حبیب الله رفیع عمر دې اوږد شي چې د پښتنې فولکلور کاروان یې لا روان ساتلی دی.
خبره نه اوږدوم! زموږ ژبه، ادب، فولکلور او د همدې برخې پالونکي د پښتنې ټولنې د تېر او اوسمهال مشالونه دي، موږ او زموږ نوی نسل به تل پرې وياړي او د هغوی د راپاتې انځورونو ننداره به کوي.
د اروابناد سیال کاکړ (اوه انځورونه) چې ددې لیکنې اصلي موضوع ده، نومونه یې په لاندې ډول دي.
۱ - ادبي انځور، ۲ - نثري انځور، ۳ - غوره انځور، ۴ - زرین انځور، ۵ - فولکلوري انځور، ٦ - لونګین انځور او ۷ - ملي انځور دی.
-**ادبي انځور:** د پروفیسر سیال کاکړ د همدې څېړنیز اثر لومړی ټوک چې زما په کتابتون کې موجود دی په ۱۹۸۷ میلادي کال، پښتو پبلیکېشنز له خوا د یونائیټډ پرنټرز په مطبعه کې د ٢٦۴ مخونو په لړلو سره چاپ او خپور شوی دی، چې خطاطي یې راز محمد راز کړې ده.[1]
دا چې دا لومړی ټوک دی، دویم ټوک که به هم لري خو ما ترلاسه نه شو کړای چې دلته یې په اړه خبرې وکړم؛ همدا لومړی ټوک دوه برخې لري چې لومړی برخه یې (ملي څېرې) ترسرلیک لاندې توریالی شاعر (امیر کروړ سوري)، ملي مبارز (بایزید روښان)، خوشحال او پښتو، رحمن بابا د تصوف باچا، نومیالی

تنویم مقناطیسي (د مسمریزم یو ډول دی) د یو ماهر جرمني ډاکټر له بې شمیره تجربو څخه څو ثابت شوي اصول راوړي، چې یو اصل یې دا دی:
«د کامل انسان لپاره له عادي عقل سربېره یو بل باطني عقل هم شته چې د هغه په واسطه د غیب له عالم سره اړیکه پیدا کوي او له هغه ځایه الفاظ او معلومات ترلاسه کوي او له غیبي عالَم څخه داسې څه وايي چې هغه په دې مادي عالَم کې شتون نه لري او په بشپړه توګه سم هم دي.»
له دې وروسته د مناهل العرفان لیکوال کیسه کوي چې په مصر کې یې په خپلو سترګو لیدلې ده:
«یو عیسایي دعوتګر (بلونکی) د تنویم مقناطیسي په واسطه د مسیحیت د تبلیغ لپاره یوه سړي ته توجه وکړه او هغه یې نیم بیهوشه کړ، عیسایي بلونکی خبرې ورسره پیل کړې چې ستا نوم فلان دی، د اصلي نوم پر ځای یې بل نوم ور وښودو، لږ وروسته چې په حال راغی، نو هغه بل نوم یې د ځان ښودلو او له خپل اصلي نوم څخه منکر شوی و.»
له دې څخه ثابته شوه چې یو انسان د بل انسان په روح کې د خپلو الفاظو انتقالي قوت او صلاحیت ترلاسه کولای شي او یو روح په بل روح اثر او اغېزه کولای شي، نو آیا د همدې انسانانو خالق په خپله یا د جبرائیل په واسطه، په مخلوق کې یو خاص او ممتاز انسان (نبي) ته د وحي الفاظ نه شي انتقالولی؟!
دا هغه نوی علمي څېړنه ده چې د وحي منکرین یې حیران کړي او ډېر یې دې ته اړ کړل چې له مادې څخه پر ماوراء، یعنې پر روحاني اثراتو او اغېزو قائل شي (نور تحقیق د فرید دائرة المعارف، د روح په بحث کې وګورئ).
اوس دا مسئله له شک او شبهې څخه پاکه ګڼل کېږي:
﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ﴾.
ژباړ: موږ هغو منکرینو ته په بیروني دنیا کې او خپله د انسان په روح کې د قدرت دلائل ورښیو، چې دوی ته دا حقیقت روښانه شي چې وحي او محمدي نبوت حق دی.
د قرآن کریم نزول
نزول په عربي ژبه کې په بېلابېلو معناګانو استعمالېږي:
۱- په یو ځای کې د یو شي ځای پر ځای کېدل، لکه نَزَلَ الأَمِيْرُ الْمَدِيْنَةَ (امیر په ښار کې ځای پر ځای شو) یا: ﴿رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا﴾ (اې الله! ما په برکتي ځای کې ځای پر ځای کړه).
۲- له پورته ځای څخه لاندې ځای ته د یو جسم راکوزېدل، لکه ﴿وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُبَارَكًا﴾ (موږ له آسمان څخه برکتي اوبه رانازلې کړې دي.)
د قرآن کریم الفاظ له جسم والي او مکان والي پاک دي، د قرآن له نزول څخه مراد أعلام (نوموته) دي، یعنې د الله تعالی له خوا، د ملائکې په واسطه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د قرآني الفاظو بیان ته د قرآن کریم نزول وايي او په دې تعبیر سره د قرآن کریم عظمت او شان بیانول مقصود دي، چې انسان ته د یوې لوړې مرتبې څیز راغلی دی. یا پر قرآن باندې د نزول اطلاق د راوړونکې ملائکې په اعتبار سره دی، ځکه هغه له لوړ مقام څخه ځمکې ته راښکته شوه او د ملائکې نزول د قرآن کریم لپاره بالواسطه نزول دی.
۳- هغه شي ته هم د نزول کلمه کارول کېږي چې له پورته خوا څخه په خپله نه شي را کوزېدی، بلکې د هغو اسبابو په وسیله راکوزېږي چې له پورته عالَم سره تعلق او اړه ولري، دا سبب که الهي اراده وي، که آسماني تاثیرات.
قرآن کریم د دغې معنا له مخې اوسپنې، حیواناتو او انساني لباسونو ته هم د نزول لفظ استعمال کړی دی:
﴿وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾
ژباړه: او موږ اوسپنې رانازلې کړې چې په هغې کې د سخت جنګ قوت دی او نورې ډېرې ګټې د خلکو لپاره پکې شته دي.
﴿وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ﴾
ژباړه: موږ ستاسو د فایدې لپاره له حیواناتو څخه اته جوړې رانازلې کړې.
﴿أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ﴾
ژباړه: موږ جامې رانازلې کړې چې ستاسو عورتونه پټوي.
د دغو دریو شیانو اسباب اسماني دي، نو ځکه یې د نزول لفظ ورته استعمال کړی دی.
له نزول څخه دوه نور الفاظ هم جوړېږي: إنزال او تنزیل.
تنزیل یوازې د هغه شي لپاره استعمالېږي چې په مختلفو وختونو کې په تدریجي ډول را نازل شوی وي او إنزال لفظ بیا عام دی، که یو شی په یو وار سره ټول رانازل شوی وي او که لږ لږ را نازل شوی وي، د دواړو لپاره استعمالېږي. لکه د عذاب لپاره چې د انزال لفظ استعمال شوی دی:
﴿إِنَّا مُنْزِلُونَ عَلَى أَهْلِ هَذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ﴾ (مُنزِلُون له إنزال څخه د اسم فاعل صیغه ده)
ژباړه: موږ د دې کلي پر خلکو باندې له آسمان څخه عذاب رانازلوونکي یو.
ښکاره خبره ده چې دغه عذاب په یو وار ټول را نازل شوی و.
قرآن کریم چې تدریجاً را نازل شوی دی، نو د هغه لپاره هم د إنزال لفظ استعمال شوی دی:
﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ﴾ (أنزل له إنزال څخه د فعل ماضي صیغه ده)
ژباړه: ټولې خوبیانې هغه ذات لره دي چا چې په خپل بنده باندې دغه کتاب (قرآن) رانازل کړی دی.
د قرآن کریم درې نزولات:
اول نزول: د الله تعالی له خوا لوحِ محفوظ ته، چې دغه نزول ته په دې آیت کې اشاره شوې ده:
﴿بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ﴾
دویم نزول: له لوح محفوظ څخه د دنیا آسمان (بیت العزة) ته. دا نزول په سورة الدخان، سورة القدر او سورة البقرة کې ذکر شوی دی:
﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ﴾ (سورة الدخان)
﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ (سورة القدر)
﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾ (سورة البقرة)
دغه دوه نزوله په مجموعي ډول په یو وار سره شوي دي.
په پورته آیاتونو کې تعارض نه شته، ځکه «لیلة المبارکة» او «لیلة القدر» د یوې شپې دوه نومونه دي، چې د روژې د میاشتې شپه ده، نو قرآن کریم بیت العزة ته د روژې میاشت په (لیلة المبارکة) یا (لیلة القدر) کې را نازل شوی دی.
دا نزول له ابن عباس څخه حاکم، نسائي او بیهقي صراحتاً رانقل کړی دی.
دریم نزول: د جبرائیل علیه السلام په واسطه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک زړه ته. ﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ﴾.
دا نزول تقریباً په ۲۳ کالونو کې بشپړ شو.
د نبي کریم له زړه څخه دې دا شبهه څوک نه اخلي چې د قرآن معناوې نازلې شوي، بلکې د قرآن الفاظ را نازل شوي دي، ځکه د همدې آیت په وروستۍ برخه کې تصریح شوې ده چې: ﴿بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ﴾.
د قرآن کریم دوه نزوله دفعي او په یو وار سره و، لومړی لوح محفوظ ته، بیا له لوح محفوظ څخه د بیت العزة مقام ته او دریم نزول یې تدریجي و، چې پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې رانازل شوی دی. وروستی یو یې له نورو آسماني کتابونو سره مخالف دی، ځکه هغه په یو وار (دفعتاً) په کتابي شکل رانازل شوي، خو په قرآن کریم کې دواړه نزوله جمعه دي (هم په یو وار سره ټول نازل شوی او هم لږ لږ را نازل شوی) د دې حکمت یې دا و چې ملائکو ته تعلیم ور کړي چې قرآن کریم آخري کتاب دی، یا آسماني دنیا ته یې د راوړلو مقصد دا و چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اشتیاق ورته زیات کړي، ځکه د محبوب او خوښ شي په نږدېوالي د سړي شوق او تلوسه نوره هم زیاتېږي او یا د مکمل حفاظت او د شک و شبهې ازاله مقصود وه.
د بنده خیال دا دی چې د آخري کتاب په توګه د قرآن کریم مکمل حفاظت مقصود و، یو وار د عمومي انتظام په صورت کې په لوح محفوظ کې وساتل شو، چې د الهي حکومت مرکزي ساتنځای دی؛ دویم وار یې بیت العزة کې د آسماني حفاظت په توګه انتظام وشو؛ درېیم وار د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مبارک زړه رانازل شو او د ده مبارک په زړه کې د قرآن کریم د ارضي حفاظت انتظام وشو، بیا د محمدي امت زړونه د قرآن کریم طرف ته مائل کړی شول او د ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ له وعدې سره سم یې د څلورم ځل په توګه د أمت په سینو کې د حفاظت او خوندي کولو انتظام وشو، وروسته أبوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم اجمعین له خوا آماده کړی شو، چې په تحریري صورت یې په پنځم ځل حفاظتي انتظام ترسره شو.
جبرائیل علیه السلام د قرآن کریم الفاظ څنګه ترلاسه کړي؟
په دې کې صحیح قول دا دی چې جبرائیل علیه السلام له الله تعالی څخه د قرآن کریم الفاظ اورېدلي دي، لکه څنګه چې بیهقي د ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا﴾ آیت په تفسیر کې لیکلي:
«د دې مؤید د طبراني هغه حدیث دی چې نوموړي له نواس بن سمعان څخه مرفوعاً رانقل کړی دی: و عن النَّواس بن سمعان قال: قال رسولُ الله ﷺ: إذا أراد الله تعالى أن يُوحي بالأمر تكلَّم بالوحي، أخذت السَّماوات منه رجفة -أو قال: رعدة- شديدة؛ خوفًا من الله، فإذا سمع ذلك أهلُ السَّماوات صعقوا وخرُّوا لله سُجَّدًا، فيكون أول مَن يرفع رأسه جبريل، فيُكلمه الله من وحيه بما أراد.«
ژباړه: کله چې الله تعالی اراده وکړي چې وحي وکړي، نو په وحي سره خبرې کوي، نو په دې وخت کې آسمان له الهي ډار څخه لړزېږي او کله چې یې د آسمان ملائکې اوري، نو بې‌هوشه کېږي او په سجده پرېوځي، په دوی کې تر ټولو مخکې جبرائیل علیه السلام له سجدې څخه سر راپورته کوي، نو الله تعالی ور سره د هغې وحي په اړه خبرې شروع کړي چې اراده یې لري.
د جبرائیل علیه السلام د وحي کیفیت غیبي کیسه ده، په دې کې د رایې ګنجایش نه شته، نو په همدې وجه دا صورت تر ټولو ډېر ارجح دی. په مناهل العرفان (لومړی ټوک، ۴۰مخ، اتقان، لومړی ټوک، ۴۳مخ) کې دا هم راغلي چې جبرائیل علیه السلام له الله تعالی څخه د روحاني تلقف (روحاني القاء) په واسطه او یا له لوحِ محفوظ څخه دا الفاظ ترلاسه کړي دي.
**د قرآن کریم د الفاظو منزل**
لکه څنګه چې یو انسان لومړی په ذهن کې نفسِ کلام برابروي او بیا یې د مرتبو الفاظو په شکل ادا کوي، نو که بیا دغه کلام لکونه انسانان ووايي خو بیا هم د هماغه لومړي مرتّب کلام بلل کېږي. مثلاً د امراءالقیس قصیده یا د حریري مقامات که هرڅوک ووايي، خو د لومړي تدوین په اعتبار سره دا د امراءالقیس او حریري کلام بلل کېږي، همدا رنګه الله تعالی خپل نفسِ کلام د قرآني الفاظو په شکل راښکاره کړ، بیا جبرائیل علیه السلام، نبي کریم صلی الله علیه وسلم او نورو میلونونو انسانانو تلاوت کړ، خو بیا هم ورته الهي کلام ویل کېږي، نه د جبرائیل علیه السلام او محمد صلی الله علیه وسلم کلام.
په قرآن کریم کې راغلي دي: ﴿حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ﴾ او ﴿بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ﴾ له دې څخه دا ښکاره ثابتېږي چې د قرآن کریم الفاظ د الله تعالی له لورې دي او دا الهي کلام دی. که مفهوم او مضمون د یو چا وي، مثلاً د زید، او الفاظ د بل چا، مثلاً د عمرو وي، نو دې ته د زید کلام نه ویل کېږي، بلکې دا د عمرو کلام دی. له دې وجې د قرآن کریم الفاظ او معاني دواړه د الله تعالی له خوا دي او قرآن کریم د ده له خوا مرتب شوی دی.
موږ له دې څخه زیات نور په کلامي پېچلتیاوو کې ځان ښکېلول نه غواړو، ځکه کومه ګټه نه لري، په مناهل العرفان کې پورتنی مضمون په تفصیل سره شته.
**د قرآن کریم، سنت او قدسي حدیث توپیر**
امام سیوطي رحمه الله له امام جویني څخه را نقلوي چې د قرآن کریم الفاظ او معاني دواړه د الله تعالی له خوا د جبرائیل علیه السلام په توسط رانازل شوي او په حدیث کې مضمون د الله تعالی دی او الفاظ یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دي.
قدسي حدیث هغه دی چې الفاظ یې د الله تعالی له خوا وي، خو معجِز نه وي او نه یې هم د الفاظو په تلاوت کولو سره هغومره ثواب شته لکه د قرآن کریم په یو حرف او توري سره چې څومره ثواب ترلاسه کېږي او نه یې هم په لمانځه کې په قرائت باندې امر راغلی.
د بنده رایه دا ده چې د نبوي او قدسي احادیثو دواړو مضامین د الله تعالی له خوا راغلي، خو د نبوي حدیث نسبت الله تعالی ته معنوي دی، د دې القاء په حقیقت کې د الله تعالی له خوا ده، خو په صریحو الفاظو کې د دې نسبت الله تعالی ته نه دی راغلی، خو په قدسي حدیث کې تر الهي امر لاندې په صریحو او څرګندو الفاظو سره د الله تعالی مقدس ذات ته یې نسبت کول ضروري دي، د دې صریح انتساب له وجې د قدسي حدیث په الفاظو کې تغیر او روایت بالمعنی جائز نه دي، حال دا چې د نبوي حدیث په الفاظو کې دغه شیان بیا جائز دی خو په دې شرط چې په اصلي معنا کې توپیر رانه شي. همدا وجه ده چې قدسي حدیث ته حدیث ویل کېږي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم الفاظو ته خاص دی، د قدسي لفظ نسبت د لا زیات صراحت لپاره راغلی دی، چې په دې سره د نبوي حدیث څخه د قدسي حدیث زیات خصوصیت او اهمیت مقصود دی. والله اعلم
**د وحي د نزول اقسام**
وحي به یا د ملائکې په واسطه وي او یا به بالذات وي، د ملکي وحي درې ډولونه دي:
۱- تصلصلي وحي ۲- تمثلي وحي ۳- رَوعي وحي
لومړی: په تصلصلي وحي کې جبرائیل علیه السلام په داسې حالت کې د وحي القاء کوي چې ملکي حقیقت یې په خپل حال پاتې وي، دې ته د بخاري شریف په حدیث کې په (وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ) سره اشاره شوې ده، د شدت یو لامل یې د بشریت او ملکیت عدمِ تجانس دی او بله وجه یې د ملکیت مقام ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عروج دی، یعنې د نبي کریم په ذات کې تصرف د وحي د شدت موجِب ګرځېدلی دی.
دویم: په تمثلي وحي کې جبرائیل علیه السلام په داسې حالت کې وحي القاء کوي چې له خپل اصلي حالت (ملکیت) څخه یې بشریت (انساني صورت) ته تنزّل کړی وي.
دغه دوه ډولونه هم په بخاري شریف کې راغلي او د دې یادونه هم پکې شوې چې لومړی ډول له دویم هغه څخه سخت او شدید دی. قرآني وحي په عام ډول په دغو دوو صورتونو سره راغلې ده.
درېیم: رَوعي وحي بیا داسې وي چې جبرائیل علیه السلام د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک زړه ته وحي القاء کوي.
د وحي دغه ډول د سامعې له قوت یا غوږونو سره هېڅ تعلق نه لري (اخرجه الحاکم).
دا درې ډولونه بالواسطه د وحي اقسام دي.
د بالذات وحي دوه ډولونه دي:
یو، په بیدارۍ کې، لکه د معراج په شپه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم له الله تعالی څخه په ویښه براه راست وحي ترلاسه کړه.
دوه، په خوب کې، لکه د معاذ رضی الله عنه په روایت کې چې نبي کریم صلی الله علیه و سلم ویلي:
«أتاني رَبِّي فَقَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ المَلَأُ الأَعْلى؟«
ژباړه: په خوب کې الله تعالی ماته راغی او ویې ویل: د پورته عالَم ملائکې په څه شي کې بحث کوي؟ **(اتقان لومړی ټوک، ۱۴،۴۵ مخونه). /** پای

# د سیال کاکړ (اوه ...

دی.[3] ددې کتاب لیکنۍ ژبه منظومه ده چې د سیال کاکړ خپل تخلیقات او منظومې ویناوې دي؛ خو په ځینو ځایونو کې یې نثري کرښې هم راغلې دي. شعرونه یې خواږه، په زړه پورې، معنی او مفهوم له مخې نسبتآ پوره دي چې د عقیدت له مخې یې د خپلو پوهانو، مبارزینو او ویاړلو څېرو په حق کې یې ویلي دي.
- **زرین انځور:** دا هم د سیال کاکړ یو بل ګټور تحقیقي اثر دی چې په ۲۰۰۹ م کال په کوټه کې د پښتو فولکلور اکاډمي له خوا په ۳۲۸ مخونو کې چاپ شوی دی،[4] چې د پښتو ژبې، ادب او ولسي ادب په هکله پکې په زړه پورې موضوعات تحلیل او څېړل شوي دي، چې دلته یې د ځینو یادونه کوم: پښتني فولکلور د ورکېدو په حال کې دی، حبیب الله رفیع د خپل وخت شمس الادباء دی، د پښتنو ادیبانو د یووالي مسئله، د پښتنو ملي ستونزې او د هغو د حل لار، سعید ګوهر مبتکر شاعر او وتلی لیکوال، په اوسنیو شرایطو کې و پښتو ادب ته ورپېښې ستونزې، کاکا جي صنوبر د پښتو ادب او سیاست یو روښانه ستوری، ملا عبدالحکیم مشوانی یو پخوانی څلور ژبی شاعر او داسې نور... راغلي دي چې د لیکوالو، ادب پوهانو او څېړونکو تنده پرې ماتېدلای شي.
- **فولکلوري انځور:** دا اثر څېړنیزه بڼه لري د سیال کاکړ یو بل ګټور اثر دی چې په ۲۰۱۱ م کال پښتو فولکلور ټولنې له خوا په کوټه کې د ۳۱۹ مخونو په چوکاټ کې چاپ او خپور شوی دی[5]، دا اثر چې له نوم څخه یې را څرګندېږي د پښتني فولکلور (منظوم شفاهي ادب) په غاړو او کاکړیو غاړو باندې بحث کوي او د همدې فورم بېلابېلې خواوې یې تشریح او تحلیل کړې دي چې د کاکړیو د تحلیل په برخه کې خورا ارزښتمن کار ګڼل کېدای شي.
- **لونګین انځور:** دا اثر چې په ۲۰۱۵ م کال ۲۴۲ مخونو کې د افغان اکېډمي له خوا په یونایټېډ پرنټرز مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی[6]، ژبه یې منظومه ده، چې د سیال کاکړ له خپلو منظومو ویناوو څخه شمېرل کېږي. په دې کتاب کې چې په پنځو برخو وېشل شوی دی، د ملي وحدت، ماشومانو، مورنۍ ژبې، پښتنوالي، ملالې، جمهوریت، انقلاب، میرویس خان او خوشحال خان، شاهنامې، کندهار، ننګرهار، لغمان، کابل، هلمند، پښتنه پېغله، نړۍ وال استعمار، ادبي مبارزینو، سیاسي مبارزینو، د پښتو د پخوانیو مشاهیرو منظومې تذکرې او نور ګڼ شمېر سرلیکونو باندې شعرونه ویلي او په تخلیقي بڼه یې د پښتو ادب لمن زرغونه ساتلې ده.
- **ملي انځور:** د سیال کاکړ وروستی انځور همدا د ملي انځور اثر دی چې په تمامه معنا د پښتني ولسي ادب منظوم اړخونه تر بحث او څېړنې لاندې نیسي چې ډېره برخه یې د لنډیو تحلیل ته ځانګړې شوې ده.
دا کتاب په ۲۰۱۷ م کال په ۴۰۸ مخونو کې پښتو فولکلور اکاډمي له خوا د کوټې په یونایټېډ پرنټرز مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی[7]، دا چې د پښتو ژبې او ادب او فولکلور په اړه ګڼ شمېر پوهانو او څېړونکو لیکنې او څېړنې ترسره کړې دي؛ خو د ا چې هر لیکوال او څېړونکی د لیکوالۍ لپاره ځانته اسلوب او لاره لري، نو ویلی شو چې سیال کاکړ د خپل وخت او زمان مطابق په دې برخه کې پوره ونډه اخیستې ده او زحمتونه یې د قدر او ستاینې وړ دي.
د همدې لیکنې پایله او نچوړ داسې رااخلو چې سیال کاکړ سربېره پر دې چې د پښتو ژبې او ادب یو خواخوږی لیکوال و او د همدې ژبې او ادب په بېلابېلو برخو کې یې ډېر ګټور کار کړی دی او د خپل علمي کار ستره خزانه یې موږ ته په میراث راپرېښوده؛ دري (پارسي) ژبې ته یې هم خدمت کړی او د همدې ژبې په برخه کې یې له لیکنو او تدریس کولو څخه سترګې نه شي پټېدلی.
د سیال کاکړ د چاپ شوو آثارو ځانګړنې ډېرې دي؛ خو ما چې دده په چاپ آثارو کې کومه ښېګڼه ولیده هغه داده چې د کتاب پېژندنې ټول اصول پکې مراعات شوي دي او ددې تر څنګ یې بله ښېګڼه داده چې د خپل هر چاپ کتاب په پای کې یې خپله بشپړه پېژندنه هم وړاندې کړې ده چې دده دا کار د لیکوالو او څېړونکو له پاره د ده (سیال کاکړ) او دده د آثارو په اړه ډېر مرستندوی او ممد واقع کېدلی شي. په پای کې ټولو علمي او اکاډمیکو موسسو ته چې د پښتو ژبې او ادب په برخه کې کار کوي بویه چې د سیال کاکړ آثار، چاپ، خوندي او د هغه په آثارو باندې نوې څېړنې ترسره کړي، د پښتو ژبې او ادب زده کوونکو ته بویه چې د لیسانس، ماسترۍ او دکتورا په برخه کې د سیال کاکړ په آثارو او د هغه په هر اړخیز ژوند باندې مونوګرافونه او تېسسونه ولیکي؛ تر څو د سیال کاکړ ژوند او ترسره کړي کار ګڼ شمېر اړخونه روښانه شي او د ادب مینه والو ته په ښه توګه وروپېژندل شي.

**ماخذونه**

۱. سیال. ولي محمد کاکړ: (۱۹۸۷ م کال)، ادبي انځور (لومړی ټوک)، پښتو پبلیکېشنز، یونائیټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
[2]. سیال. ولي محمد کاکړ: (۲۰۰۵ م کال)، نثري انځور، پښتو ادبي بورډ خپرندویه ټولنه، یونائیټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
[3]. سیال. ولي محمد کاکړ: (۲۰۰۷ م کال)، غوره انځور، پښتو فولکلور اکېډمي، یونایټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
۴ . سیال. ولي محمد کاکړ: (۲۰۰۹ م کال)، زرین انځور، پښتو فولکلور اکېډمي، یونایټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
[5]. سیال. ولي محمد کاکړ: (۲۰۱۱ م کال)، فولکلوري انځور، پښتو فولکلور اکېډمي، یونایټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
[6]. سیال. ولي محمد کاکړ: (۲۰۱۵م کال)، لونګین انځور، افغان اکېډمي، یونایټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
[7]. سیال. ولي محمد کاکړ: (۲۰۱۷ م کال)، ملي انځور، پښتو فولکلور اکېډمي، یونایټېډ پرنټرز مطبعه، کوټه.
پای

# پښتو نثر له ...

اخلي او دغه عاطفه ډېر ځله هوښیار او حوصله من خلک هم پرېکړې کولو او احساساتي کېدلو ته اړ باسي، چې دا د هنري نثر او ادیب لوی کمال دی؛ نو که د دې خبرې منلو ته چمتو یو بیا نو پورته تعریف کې باید څه زیاتونې او کمونې وکړو او نثر یوازې له وزن او قافیې څخه ازاده وینا ونه بولو، بلکې احساسي، عاطفي او تر ټولو مهمه خبره مخیله یې وبولو؛ خو په دې پېژند کې باید دا تېروتنه ونه کړو، چې دا تعریف ټولو نثرونو ته ومنو؛ ځکه نثر پر هنري برخې سربېره علمي، معلوماتي، تاریخي او داسې نور ډولونه هم لري، چې په هغو کې د هنر تومنه ور اچول د مستو پر ځای اکاړه جوړوي، چې نه به یې نوم وي او نه به یې خوند.
که خبره را لنډه کړو: نثر هغه وینا یا لیکنه ده چې هنري ارزښت یې کوم قید و شرط نه لري، خو د وزن له قیده به هرومرو ازاده وي. په دې تعریف کې موږ د هنري نثر لپاره د هنر کلمه ورسره زیاتوو خو د بې هنره نثر لپاره چې ډېر ځله د نورو علومو لپاره کارېږي د هنر له قیده تېرېږو او خپل ټاکلی تعریف تکرارو او په دې توګه ځان له مسوولیته خلاصو.
نو د نثر دا پېژند یو وړاندیز شوی پېژند دی، ښایي خپلې نیمګړتیاوې ولري، خو زما په اند تر هغه بل پېژند به غوره وي چې بشپړول به یې د نورو لیکوالو را باندې احسان وي.
که د نثر له پېژنده را تېر شو، نو د ډولونو په اړه یې هم د لیکوالو او پوهانو ترمنځ اختلاف دی، ځینې وايي نثر په درې ډوله دی او ځینې وايي په شپږ ډوله، چې ډولونه یې دا دي:

۴مخ

۱. مسجع نثر "قافیه وال نثر": هغه نثر دی چې د جملو په اخر کې په کې قافیه هم راغلې وي او په درې ډوله دی:
الف) مسج متوازي.
ب) مسجع مطرف.

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

**د ۱۴۰۱ ل.کال، وري میاشت | ۱- ۲مه ګڼه | پرله پسې ۳۹۳- ۳۹۴مه ګڼه**

**د افغانستان د علومو اکاډمي**
**د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان**

**مسئول مدیر:** څېړندوی لطف الله صابر

**مهتممه:** څېړنیاره بي بي شفیقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال،
څېړندوی لطف الله صابر، څېړندوی احسان الحق کبیر او څېړندوی مطیع الله ساحل

**د اړیکي شمېره:** (+۹۳)۷۷۷۴۲۴۳۴۰

**برېښنالیک:** zerai۱۳۱٦@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په خپله د لیکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو
مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ



څېړنوال محمد آصف احمدزی


## د ۱۴۰۱هـ. ش کال د حمل فرهنګي – ادبي

### "وقار القاري في شرح مختصر صحیح البخاري" چاپ شو

دا د احمد بن محمد بن عبداللطیف الزبیدي اثر دی چې پښتو ژباړه او لنډه شرحه



یې پوهاند دکتور دل آقا وقار په ۳ ټوکونو کې ترتیب کړې او چاپ شوې ده. په دغه ژباړه او لنډه شرحه کې د هر حدیث متن، ژباړه، د لغتونو معنا او لنډه شرحه شامله ده.

په پښتو ژبه د قرآن عظیم الشان له تفسیر (وقار التفاسیر) او په پښتو ژبه د لنډیز شوي مسلم شریف (وقار المؤمن في شریح مختصر صحیح مسلم) څخه وروسته (وقار القاري) د پوهاند وقار درېیم لوی اثر دی چې په پښتو ژبه لیکل شوی دی.

### اچین کې پسرلنۍ مشاعره وشوه

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې پسرلنۍ مشاعره جوړه شوه. دا مشاعره چې د شینوارو ادبي بهیر په هڅو جوړه شوې وه، د ننګرهار د بېلا بېلو سیمو شاعرانو او د ادب مینه والو په کې برخه اخیستې وه.

دا مشاعره د قرآن کریم په تلاوت پیل شوه، ورپسې د کهي لېسې زده کوونکو ترانه وویله او بیا شاعرانو یو په بل پسې خپل شعرونه واورول.

د مشاعرې تنظیموونکي وایي چې د مشاعرې په ویل شویو شعرونو کې د سولې، یووالي او د پسرلي رنګونه وو.

### د رڼا د محفلونو یو څراغ (سید صابر شاه صابر)

د افغانستان ملي تحریک په بلنه د لیکوال، شاعر، ژورنالیست او د فرهنګ د ډګر د خدمتګار سید صابر شاه صابر د خدمتونو د قدرونې په پار درنه علمي غونډه په کابل کې د پنجشنبې په ورځ د وري په ۴مه جوړه شوه.

په دې غونډې او علمي سیمینار کې د هېواد ډېرو تکړه لیکوالو، پوهانو، د مدني ټولنو استازو او قومي مخورو ګډون کړی و، له نیکه مرغه چې خپله سید صابر شاه صابر او د هغو د کورنۍ غړو هم حضور درلود.

پوهاند دکتور محمد اسمعیل یون، اباسین یوسفزي، نصیر یاسیني، عباس شاه عابد، ضیاءالرحمن ضیاء، ایمل صابرشاه، محمد نبي تدبیر، الهام صابر، محبوب الله خان محبوب او استاد حبیب الله رفیع د سید صابر شاه صابر (پاچاجي) د علمي شخصیت او فرهنګي خدمتونو په باب خپل پیغامونه، نظمونه واورول او د پاچاجي د فرهنګي شخصیت په باب یې هر اړخیزه خبرې وکړې او دی یې د لرو او برو افغانانو یو ستر خدمتګار وباله.

د غونډې په دوهمه برخه کې د پاچاجي قدرداني وشو، د مسافر خیریه بنسټ له خوا ورته ستاینلیک ډالۍ شو او د غونډې د برخه والو ورته ګلان غاړه کې واچول شول، د عزت لونګۍ ورته پر سر شوه، د مېرمن یون له خوا د سید صابرشاه د فرهنګي کورنۍ ټولو غړو ته له افغاني دود سره سمې افغاني جامې ډالۍ شوې.

ورپسې د ملي تحریک له خوا د مشرانو په لاسو پاچاجي ته د (افغانیت او اسلامیت) په نوم د سرو زرو مډال ډالۍ شو. دا مډال هغو فرهنګي او ملي شخصیتونو ته ورکول کېږي، چا چې یادو ارزښتونو ته زیات خدمتونه کړي وي.

د غونډې په وروستۍ برخه کې پاچاجي خبرې وکړې او کابل ته راتګ یې د خپل ژوند یوه ډېره خوږه خاطره وبلله.

ده ویل چې د خپلو فرهنګي خدمتونو لړۍ به جاري ساتي او د لروبرو پښتنو د پیوستون لپاره به خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي.

صابر دا هم وویل چې د (کابل یون) په نوم به د دې سفر یونلیک هم لیکي او د غونډې د برخه والو له جملې څخه انجنیر نظرمحمد منګل د هغه د چاپ ژمنه ورکړه.

غونډه په دعایې سره پای ته ورسېده او په پای کې د غونډې برخه والو له پاچاجي سره یادګاري انځورونه واخیستل او همدارنګه دوه عنوانه علمي کتابونه هم د غونډې برخه والو ته ډالۍ شول.

سید صابر شاه صابر پر (۱۹۷۰م) کال په پېښور کې زېږېدلی دی، (۳۵) کاله یې لیکوالي کړې، (۴۲) کتابونه یې خپل چاپ کړي، پر (۵۰۰) عنوانو آثارو یې سریزې لیکلي او د سترو علمي او ملي شخصیتونو په باب یې تر (۵۰) زیات علمي سیمینارونه جوړ کړي او نور ګڼ شمېر فرهنګي خدمتونه یې تر سره کړي دي.

### د زابل بادام ګل کلنۍ مشاعره تر سره شوه

د زابل ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په انګړ کې جوړه شوې "بادام ګل" دودیزه کلنۍ مشاعره د وري په ۴مه مازیګر مهال پر څلور بجې پیل او د شپې تر ناوخته یې دوام درلود.

د مشاعرې پر مهال د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون عمومي رئیس مولوي احمدالله وثیق، د زابل مرستیال والي سلیمان آغا بهیر او د ولایت لېر نورو مسؤولینو سربېره ترانه ویونکو او شاعرانو محمد جمعه ساجد، قاري منصور غزنوي، استاد عبدالقیوم مینه وال، صالح محمد نظامي، خالد منعم، مولوي شفاعت ریحان، مدني اشنا، سبحان کندهاري، بشرمل ناصر او سلګونه شاعرانو او د ادب مینه والو حضور درلود.

مشاعرې دوه برخې درلودې چې یوه یې د وینا برخه وه او بله یې مشاعرې ته ځانګړې شوې وه. مشاعرې ته د وینا پر مهال د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون عمومي رئیس مولوي احمدالله وثیق ټولو ته د مشاعرې د مبارکۍ تر څنګ وویل: "خوشحاله یم چې له ډېرو کلونو وروسته د زابل بادام ګل دودیزه کلنۍ مشاعره کې ګډون کوم، یاده مشاعره په داسې مهال تر سره کېږي چې هیڅ اشغالګر نشته".

د ده په خبره، اشغالګرو نه یواځې پوځي یرغل کړی وو، بلکې د دې تر څنګ یې فکري او فرهنګي یرغل هم کړی وو، اوس چې په افغانستان کې جګړه پای ته رسېدلې ده، د جګړې پر میدان د افغانستان اصیلو شاعرانو، لیکوالانو او ترانه ویونکو په خورا غیرت د دې وطن د ازادۍ لپاره خپله ژبه او قلم چلولي دي او له مجاهدینو سره یو ځای یې د ازادۍ غږ بدرګه کړی دی.

هغه زیاته کړه، لا کار ته اړتیا ده چې شاعران، لیکوالان او فرهنګپال د فکري او فرهنګي یرغل مخه د خپلو شعرونو او لیکنو پر مټ داسې ونیسي چې د دې خاورې دښمنان ورته حیران شي.

نومړي له مرستیال والي سلیمان آغا بهیر او د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست څخه مننه وکړه چې د بادام ګل دودیزه مشاعره یې جوړه کړې او د نورو داسې فرهنګي پروګرامونو تمه یې وښوده.

د زابل مرستیال والي سلیمان آغا بهیر له ټولو مېلمنو او ګډونوالو څخه مننه وکړه چې د بادام ګل په دودیزه کلنۍ مشاعره کې ګډون کوي او خوښي یې وښوده چې د امن په فضاء کې یاده مشاعره نمانځي، په خبره یې دا د هغو شاه زلمو د قربانیو ثمره ده چې خپل ځانونه یې قربان کړل، خو دوی په ازاده فضاء کې داسې پروګرامونه ترسره کوي چې دا ډېر د افتخار او ویاړ ځای دی.

تر ویناوو وروسته د محمد جمعه ساجد په خواږه ترنم سره د مشاعرې لړۍ پیل شوه چې ډېرو شاعرانو په کې خپل شعرونه، غزلونه او ترانې د مشاعرې ګډونوالو ته وړاندې کړې، د ټولو شاعرانو په شعرونو، غزلونو او ترانو کې د امن، یووالي، ترقۍ، تمدن، هېواد جوړونې، فکر جوړونې، د شل کلن اشغال وحشتونه او د مجاهدینو کارنامې او د ژوندانه له نورو اساسي اصولو سره ترلي پیغامونه نغښتي وو چې د مشاعرې د ټولو ګډونوالو له خوا په خوښیو او خوشحالیو سره بدرګه شول.

### للمه علمي او ادبي بهیر پسرلنۍ مشاعره تر سره کړه

للمه علمي او ادبي بهیر کلنۍ پسرلنۍ مشاعره د للمې عالي لېسې په انګړ کې د وري په پنځمه ترسره کړه.

مشاعره د ماسپښین په دوه نیمو بجو پیل شوه چې د انانسرۍ چارې یې فهیم الله ظاهر تره کي، وقاص بلاذري او هېواد ځواک پرمخ وړلې.

په یاده مشاعره کې بېلابېلو شاعرانو، لیکوالانو، ځوانانو او د للمې کلي پر اوسېدونکو سربېره یو شمېر مېلمنو هم برخه اخیستې وه.

مشاعره د قرآن کریم په تلاوت پیل شوه، ورپسې ځوان شاعر نورخان ارماني د بهیر په استازیتوب افتتاحیه وینا وکړه.

د للمې عالي لېسې مدیر ښایسته زمان حقیار د للمې کلي په نماینده ګۍ مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د مشاعرو او غونډو په ارزښت وغږېد.

همداراز استاد حیات الله دقیق د للمې د شاعرانه سیمې د پخوانیو او اوسنیو شاعرانو د یادونې ترڅنګ د تکړه شاعر او لیکوال مرحوم غلام الرحمن جرار پر ژوند لنډې خبرې وکړې او د هغه د شعر نمونه یې وړاندې کړه.

ورپسې مشاعره پیل شوه چې بېلابېلو ځوانو شاعرانو او ترنم ویونکو خپل شعرونه وړاندې او زمزمه کړل.

مشاعره د مازیګر په پنځو بجو د مولوي ښایسته زمان حقیار په دعایې پای ته ورسېده.

### د میمنې ادبي بهیر د استاد ازمون کوربه و

د میمنې ادبي بهیر د ناستو په تسلسل د وري پنځمه خپله پنځه څلوېښتمه ناسته د مظفر ښوونیز مرکز د غونډو په تالار کې ترسره کړه.

د میمنې ادبي بهیر مشرتابه انجنیر رفیع الله ارمان د بهیر د تأسیس او د روانو فعالیتونو په اړه ګډونوالو ته معلومات ورکړل.

د فاریاب پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد پوهنمل عزیزالرحمن حقیار استاد ازمون ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ د بهیر لاسته راوړنې وستایلې او دا یې د پښتنو لیکوالانو او شاعرانو لپاره د روزنې یو ټولګی یاد کړ.

وروسته لنډه مشاعره وشوه چې په ترتیب سره ځوانانو لنډې کیسې، غزلې او لنډۍ د ترنم په ډول واورولې.

په وروستیو کې د غونډې ځانګړي مېلمه پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون هر اړخیزه او لارښوونیزه وینا وکړه.

نومړي د بهیر په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د دې ویاړ مبارکي یې د فاریاب پوهنتون د پښتو څانګې استادانو او د بهیر مشرتابه ته ورکړه. همدارنګه استاد د ادبیاتو اړوند په ځانګړي ډول د فولکلور په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

ازمون زیاته کړه چې د ژبې د بقا او پاینښت لپاره نثر ډېره مهمه برخه ده، زموږ فولکلور او ولسي ادب له مینې، عطوفت څخه ډک دی او باید د غوړېدا لپاره یې ګډې هڅې ونه دروو.

د ده په وینا، له ادیب سره الفاظ او کلمات دي چې له دغو کلماتو څخه دنیا جوړوي.

ده په وروستیو کې د شمشاد نړیوال تلویزیون د مشر الحاج فضل کریم فضل هغه پیغام هم واوراوه چې د میمنې ادبي بهیر سره یې د همکارۍ ژمنه کړې وه. همدارنګه شمشاد تلویزیون دغې ناستې ته خبري پوښښ ورکړ چې را روانه اونۍ به د شمشاد تلویزیون د ګندهارا خپرونې له لارې تر لیدونکو ورسېږي.

دغه په زړه پورې غونډه چې د پوهنتون محصلینو، د پښتو څانګې آمر پوهنمل غلام سخي همت، پوهنیار محمد کبیر ظریفي او نورو استادانو له ګډون هم برخه منه وه، نږدې ماښام مهال د مدثر الماس له خوا د نظم په ویلو سره پای ته ورسېده.

### په افغانستان کې د »بي بي سي پښتو« تلویزیون پر خپرونو بندیز ولګېد

«بي بي سي» وایي چې د افغانستان اسلامي امارت په دغه هېواد کې د بي بي سي پښتو تلویزیون پر خپرونو بندیز لګولی دی.

بي بي سي په دې اړه د ۱۴۰۱هـ. ش کال د وري په ۷مه (یکشنبه) په خپاره کړي خبر کې ویلي، یاده خپرونه چې له کلونو راهیسې د »شمشاد «ټلوېزیون له لارې په ټول افغانستان کې خپرېده، د یکشنبې پر ماښام خپره نه شوه.

سرچینه زیاتوي، د بي بي سي فارسي او ازبکي تلویزیوني خپرونې چې په افغانستان کې د اریانا او ارزو تلویزیونونو له لارې خپرېدلې، له تېرو څو ورځو راهیسې بندې شوې دي.

سرچینه لیکي:«بېلابېلو طالب سرچینو بي بي سي ته ویلي، دا پرېکړه د دوی د مشرتابه له خوا شوې ده، خو دې سرچینو د طالب چارواکو د دې پرېکړې تر شا د لاملونو په اړه کوم وضاحت نه دی کړی.»

دا رسنۍ وایي، د بي بي سي نړیوال سروېس له څو لسیزو راهیسې په ټول افغانستان کې خپلو لیدونکو، لوستونکو او اورېدونکو ته خبري، علمي، تفریحي او نورې خپرونې لري. د بي بي سي پښتو تلویزیون نیم ساعته خپرونه چې هر مازیګر شپږ بجې خپرېږي، یواځې په افغانستان کې تر شپږ میلیون ډېر کتونکي لري.

د حکومت ویاند مرستیال انعام الله سمنګاني وایي: «له دې امله چې بهرنۍ انځوریزې رسنۍ له بهره خپرونې کوي او اسلامي امارت د هغوی موادو په تېره د خبریالانو او نورو یونیفورم/ جامو ته لاسرسی نه لري، همداراز هغو داسې مطالب خپرول چې زموږ له دیني ارزښتونو، افغاني کلتور، امنیت او ملي ګټو سره برابر نه وو او خلک مو له دغه پلوه اندېښمن وو؛ نو ځکه پرېکړه وشوه چې د هغو بهرنیو تلویزیونونو د خپرونو مخه ونیول شي چې د افغاني تلویزیونونو له لارې خپرونې کوي.»

### د ستر صوفي شاعر عبدالرحمان مومند یاد غونډه

په پېښور کې د پښتو د خوږ ژبي صوفي شاعر عبدالرحمان مومند بابا تلین د یوې درنې غونډې او مشاعرې په ترڅ کې ونمانځل شو.

دغه نمانځغونډه چې د افغان کلتوري ټولنې په زیار او نوښت په پېښور ښار کې د عبدالرحمن مومند د غونډو په تالار کې د وري په ۷مه جوړه شوې وه، ګڼو لیکوالو او شاعرانو او د بابا مینه والو په کې برخه لرله او د بابا درنې اروا ته یې په خپل وار د مینې او عقیدت پېرزوینې وړاندې کړې.

دا درنه مشاعره د کلام الله مجید د څو مبارکو او سپېڅلو آیتونو په تلاوت پیل شوه او ورپسې سرور یوسفزي ایډوکېټ خپل خوندور غزل واوراوه چې ټولو خوښ کړ. وروسته بیا شاه جهان د رحمان بابا د مزار د جومات مؤذن د رحمان بابا دوه شعرونه په ترنم کې واورول او په زړونو یې ژور تأثیر وکړ. بیا د رحمان بابا د مزار د خاکروبانو صدر احسان الدین د بابا اروا ته د عقیدت پېرزوینې وړاندې کړې چې د غونډې برخه والو ورته لاسونه وپړقول. ورپسې استاد محسن صدیقي خپل غزل ولوست چې تود هرکلی یې وشو.

د صفی الله سنګین خوږ ترنم غونډه لا پسې توده کړه او د احمد شاه هوتکزي رنګین غزل مشاعرې ته رنګونه او خوندونه وبخښل.

وروسته بیا فضل مولا توره کی خپل خوندور کلام په ډېر ښکلي ترنم واوراوه چې زړونه یې په وجد راوستل. د بصیر بیدار ستوري خواږه غزل غونډې ته لا پسې خواږه ورکړل او د مشر شاعر او درونډ فرهنګي شخصیت استاد محمد هاشم غمشریک څوکیوال ښکلي کلام برخه والو په تودو ولولو بدرګه کړ.

وروسته امان الله نصرت خپل یو اوږد نظم چې عنوان یې و: «رحمان بابا ته د عقیدت پېرزوینې» واوراوه.

وروسته بیا د پښتو خوږ ژبي سندرغاړي او په پښتو او پښتنوواله مین ادبپال او ژبپال بلال سکندري د رحمان بابا یو ښکلی کلام په خپل زړه ناستي غږ زمزمه کړ چې د مشاعرې ګډونوالو یې په تودو احساساتو او د لاسونو په پړقولو هرکلی وکړ او ډېر یې ونازاوه.

د مشاعرې په وروستۍ برخه کې تکړه افغان محقق، لیکوال او شاعر میرویس چکنوري خپل په زړه پورې شعرونه په ډېره خوږه ژبه واورول چې غونډې ته یې لا پسې ښکلا او ځلا وبخښله.

دا خوږه او توده مشاعره چې د رحمان بابا په تاریخي مزار کې جوړه شوې وه، د غونډې د دریځ د مسؤول ځوان لیکوال عارف همدرد په دعایې پای ته ورسېدله.

د دغه ستر پښتون شاعر اروا دې ښاده وي او پر ګور یې نور او د رب رحمتونه!

په رحمان باندې دا عمر هسې تېر شو
لکه تېر شي یو ساعت په دې دنیا

### د نارنج ګل دودیزه کلنۍ مشاعره وشوه

په ننګرهار کې د نارنج ګل دودیزه کلنۍ مشاعره د شاعرانو، لیکوالو او دولتي مسؤولینو په ګډون د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست له لورې د وري پر ۱۰مه د جلال اباد ښار په شېرزي لوبغالي کې جوړه شوه.

په مشاعره کې تر ډېره حماسي شعرونه او ترنمونه ویل کېدل چې د اسلامي امارت جهاد، قربانۍ او بریالیتوب یې بیاناوه؛ خو ځینو شاعرانو ته په کې د ازادو نظمونو اجازه هم ورکړل شوه.

د یادونې ده چې د مشاعرې دوېمه برخه له ماښام وروسته د ملي تلویزیون له لارې په ژوندۍ بڼه خپره شوه.

### څېړندوی صابر د زېري جریدې مسئول مدیر وټاکل شو

د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس د ۱/۱۰/ ۱۴۰۱هـ. ش نېټې د (۳٦) ګڼه حکم پر اساس څېړندوی لطف الله صابر د ژبو او ادبیاتو د مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ د زېري جریدې د مسئول مدیر په توګه وټاکل شو. نومړی د وري په ۲۲مه د ژبو او ادبیاتو د مرکز د رئیس، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ د آمر او د مرکز د نورو آمرینو او استادانو له خوا په رسمي توګه معرفي او پر خپلو چارو یې پیل وکړ.

صابر تردې مخکې د فولکلور او شفاهي ادبیاتو څانګې د علمي غړي په توګه دنده لرله.

### څېړندوی کبیر د ادبیاتو او متنپوهنې ډیپارټمنټ آمر وټاکل شو

د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس د ۱/۱۰/ ۱۴۰۱هـ. ش نېټې د (۳٦) ګڼه حکم پر اساس څېړندوی احسان الحق کبیر د ژبو او ادبیاتو د مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ د ادبیاتو او متنپوهنې ډیپارټمنټ د آمر په توګه وټاکل شو.

نومړی د وري په ۲۲مه د ژبو او ادبیاتو د مرکز د رئیس، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ د آمر او د مرکز د نورو آمرینو او استادانو له خوا په رسمي توګه معرفي او پر خپلو چارو یې پیل وکړ. کبیر تردې مخکې د زېري جریدې د مسؤول مدیر دنده لرله.

### «پژوهش واژه های مرکب در متون معروف منثور قرن ششم و هفتم «پروژه دفاع شوه

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د دري ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ غړې څېړندوی زحل راد له خپل علمي- تحقیقي پروژې (پژوهش واژه های مرکب در متون معروف منثور قرن ششم و هفتم) څخه د وري په ۲۴مه دفاع وکړه.

په دې علمي ناسته کې د دفاع د کمیسیون غړو او نورو استادانو برخه اخیستې وه چې څېړونکې تر دفاع وروسته د استادانو پوښتنو ته مقنع ځوابونه هم ورکړل.

## پښتو نثر له ...

د) مسج متوازن.

۲. مرسل نثر "ازاد، ساده یا عاري نثر".
۳. موجز نثر "وزن او قافیه لرونکی".
۴. مقفی نثر.
۵. مرصع نثر.
٦. مصنوع یا فني نثر. (۳)

خو څېړنوال سیدمحی الدین هاشمي په خپل کتاب "د نثري ادب ډولونه" کې بیا نثر په درېو سترو برخو وېشي او وایي:

۱. ساده یا مرسل نثر: چې لفظي او معنوي ښکلاوې په کې نه وي.
۲. فني نثر: چې د لیکوال عواطف او احساسات هم ورسره ګډ وي.
۳. ساده ولسي نثر: چې کټ مټ د خلکو ژبه انځوروي. (۴)

پرپورته ډولونه سربېره ځینې پوهان د نثرونو نورو ډولونو ته هم قایل دي، لکه تاریخي، پوهنیز، څېړنیز، دیني، ساده او روان، متکلف، حماسي، غنایي، اسطوروي، عرفاني، اخلاقي، فلسفي، سوفسطایي او... په داسې حال کې، چې دا ټول په نثري اثارو کې راځي نه په نثر کې او که چېرې د نثر برخه یې هم وبولو بیا هم له هماغه لومړیو شپږو ډولونو او یا وروستیو درېو ډولونو څخه خروبېږي، چې له بده مرغه تر اوسه پورې دغه مسئله لانجمنه پاتې ده.

په هر حال، زموږ څېړنه د نثر د دومره دقیقې ځیرنې حوصله نه لري او یوازې د نثر شکلیاتي ډلبندۍ ته نغوته کوي، چې هغه ساده نثرونه او هنري یا ادبي نثرونه دي، په دې برخه کې هم پر هنري یا ادبي نثرونو باندې بسنده کېږو او پاتې ډولونه یې راتلونکې ته پرېږدو، چې د وخت په پام کې نیولو سره به پرې کار وکړو؛ ځکه که چېرې موږ د پښتو ژبې ساده نثرونو ته هم تم شو، نو بیا اړ یو چې له سالو ورمې، تذکرة الاولیا، پټې خزانې او یا تر دې را وروسته ټولو نثرونو باندې لومړۍ رڼا واچو او بیا یې له اوسني پېر سره ارزښتونه په ګوته کړو، چې دا کار د داسې لیکنو له چوکاټه او حوصلې وتی کار دی، ځکه په دې کار باندې هم پخوا او هم اوس په بسنده توګه کار شوی، چې ټول ډېرو درنو مشرانو کړی او نیمګړتیاوې په ګوته کول یې زما په څېر کوچنی او په دې لار کې مبتدي لیکوال ته ډېر ګران کار دی؛ نو ځکه ترې صرف نظر کوم او د اوس لپاره همدومره.

**مأخذونه**


هاشمي، سیدمحی الدین. د نثري ادب ډولونه (ادبي ژانرونه)، وحدت خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۹ لمریز کال. ۳۰ مخ.

ښکلی، اجمل. نثر نوی تعریف غواړي، افغان ادبي بهیرانټرنټي پاڼه: کابل، را اخیستنه۱۳۸٦ لمریز کال. http://www.baheer.com

همت لور، ډیوه. پښتو نثر پېژندنه، افغان بنسټ انټرنټي پاڼه، را اخیتسنه ۱۳۹۳ لمریز کال. http:// afghanfoundation.net/?p=۵۵۳٦

د نثري ادب ډولونه: ۳۰ مخ.